نه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو متلونه



PROPERTY OF
ARIC
Established
1980

مهتمم: محمد دین ژواک

الازهر خپرندویه مؤسسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه

# پښتو متلونه

# PASHTO PROVERBS

مهتمم: محمد دین ژوال

چاپ شمېر: زر ټوکه

چاپنیټه: مني ۱۳۸۲

کمپوزر: سید سلیمان هاشمي

**خپرونکی: الازهر خپرندویه مؤسسه**

پته: قصه خواني پوست بکس ۴۶۳ پېښور

تیلفون: 091-2564414

alazharco@homtilal.com

د چاپ ټول حقوق خوندي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Pashto Proverbs










**الازهر خپرندویه مؤسسه**

پته: ډهکي نعلبندي، قصه خواني، پيښور - پاکستان

E-mail: alazharco@hotmail.com

Tele: +92-91-2564414

PROPERTY OF ACKU 11326

# پښتو متلونه

پښتو متلونه د پښتو د شفاهي ادب یو د غوره برخه ګڼل کیږي.

دا متلونه له ډیرو پخوا څخه موجود او زموږ د نیکونو غوره ، قیمتي ، تللي او پخې ویناوې دي، چې د نکلونو په شان خوله په خوله ترد ې وختـه رارسیدلي دي.

د پښتو متلونه د ویلو تاریخ هم د لنډیو په شان ، معلوم نه دی او نه یې ویونکی معلوم دی.

بلکې په هرد زمانه کې ویل کیږي او هر څوک یې وایي.

متلونه د ټولو پښتنو د خولې مرغلرې دي، چې خورې ورې د خلکو په ذهنو کې پرتې دي. د متلونو عبارت خوندور ، لنډ او یو لوی مقصد په کې ځای شوی دی. پښتو متلونه که څه هم زیات په نثر کې شاملیږي مګر ډیر یې وزن او قافیه هم لري.

له متلونو څخه د هر قوم د پوهې، تجربې او فکري لوړتیا اندازه معلومیږي ، ولې چې متلونه هغه پخې خبرې دي، چې له ډیرو تجربو څخه وروسته په لاس راغلي او د ژوندانه لارښوونکې ګڼل کیږي.

متلونه په وینا کې خوږوالي او قوت پیدا کوي او عبارت پرې ښایسته کیږي. دا وجه ده چې شاعران او لیکوالان یې په خپلوویناو کې راوړي او دا د بدیع په فن کې یو صنعت ګڼل شوی دی.

د متلونو پیژندنه دوې خواوې لري: یوه دا چې د ویلو اصلي ځای او ریښه یې سړي ته معلومه شي او بله دا چې داستعمال ځای یې [illegible] معنې یې حقیقي او دوهمه یې کتابي او مجازي دی. مثلاً: د دې متل ( مات لاس غاړې ته لوېږي) حقیقي معنې هم موجوده ده ، ولې چې د چا لاس خوږ او مات شي، نو رښتیا یې غاړې ته اچوي او مجازاً په داسې ځای کې ویل کیږي ، چې یو عاجز او بې وزلې سړی د خپل ځان غم ، په کوم مالدار یا یو مشر باندې اچول غواړي.

پښتانه متلونو ته ډېر اهمیت ورکوي . هر متل ورته د کاڼې کرښه ښکاري او هغه یو پوخ او غټ دلیل بولي. پښتو متلونه د پښتنو داجتماعي ژوندون پوره نمایندگي کوي.

د پښتو متلونه ډېر او په زیات اندازه دي او لکه د لنډیو په هره خوا کې په بیل بیل ډول د خلکو په سینو کې پراته دي.

د پښتو متلونه ډېر پخواني او لرغوني معلومیږي ، ځکه چې د متل جوړیده او شهرت ډېر زمانه غواړي او ډېر زر د متل حیثیت نه شي موندلای.

د غه شان ښایي چې د متلونو په عبارتونو کې هم ډېر توپیر نه وي راغلی ، ځکه چې د متلونو عبارت او لفظ د یو روایتي متن په توگه په خپل اصلي رنگ ساتل کیږي او د زمانو بدلونه په کې زیات تغییر نه پیدا کوي.

د پښتو هر متل لکه د لنډۍ یو ځانله خپلواکي مضمون یا په بله ژبه د یوې پیښې او واقعې لنډیز دی. د پښتو یو څو متلونه دا دي:

چې بد گـــــــرزي، بـد بـه پـرزي
له پروت زمـري نه، گـرځنده گـيـدړ ښـه دي
ژرنـده کـــــــــه دپـلار ده، هـم پـه وار ده
کـــــه غـــــر لوی دی، په ســـر يې لار ده
دلتې غـــويـي آخـر خـاوند قـصـاب دي
د بهـر لـه گـتـنـدوی نه دکـور و تـنـدوی ښـه دي

د پښتو متلونه تر اوسه پورې ټول نه دي راغونډ شوي او لکه د پښتو ادب د نورو مرغلرو په شان، د پښتونخوا په غرونو او درو کې لا هماغسې لکه لالونه پټ پراته دي.

پښتو ټولنې له پخوا څخه د پښتو متلونو د راغونډولو په کار لاس پورې کړی دی. د پښتو متلونو لومړی مجموعه په (۱۳۱۸) کال کې خپره شوه. په دوهم ځل يو دبله مجموعه په (۱۳۲۷) کال کې د چاپ ميدان ته راووتله چې ښاغلی محمد گل نوري ټوله کړې وه، مگر په دغه مجموعه کې له ادبي چوکاټه نه وتلي نا سپيڅلي متلونه هم راغلي وو او ځينې لفظي کمزورې په کې هم ډيرې وې، نو د پښتو ټولنې د ادبياتو څانگې د دغو متلونو پوره سمون او سپيڅلتيا ته ملا وتړله، نوي متلونو يې هم راټول کړل او په نوی شکل يې د چاپ د پاره تيار کړل. ددې مجموعې د متلونو شمير (۲۷۹) ته رسيږي.

ددې متلونو په ترتيب او چاپولو ښاغلي حفيظ الله خان او ښاغلي ژواک پوره زيار ويستلی دی، چې زه ددواړو زيار او زحمت د قدر په سترگه گورم او دځان او ددوی د پاره له خدای څخه د پښتو ژبې د زيات خدمت توفيق غواړم.

«رشتين»

# (الف)

* ابا کور نشته، له ادي دارر نشته.

ابا گورد، خورجين يې گورد.

ابا اوبو يووړ، ويل يې ابا څه کوې، غاړې غرونه يې يووړه.

ابې زرد شود، له شوقه ونه لويده.

* اتڼ وهه شير داده، نن بيا دچرگ شير واده. (۱)

اتنه وزان شې، چې امر الدين دې ناري کوى. (۲)

* اختر پټ ميږه نه دى.

اختر تير شو، متايى يې هيرد نه شوه.

اختر د يوه سړى نه دى.

آخر عمر د خوارى دى.

اخنبې چې روپۍ شيندى، د کلى تولې پيغلې به يې خدمت کوى.

اخنبې چې جيب ترلې وې، په خوانبې او خوبنينې يې قدر خورلې وى.

اخور يې جوړ کړ، ويل يې اس به خداى راکړى.

* ادب له بې ادبه زده کيږى.

(۱) - شيروا يوه لهجه ده، چې د بنوروا په عوض ويل کيږى.

(۲) - دا متل د کندهار په خوا کې شهرت لرى.

ادب له زخمه اخيستل كيږي.

آدم خان ذې په خيال گوروان درغلى دى.

اډې چې زوروره ده، دبابا د زوره ده.

اډې مه يې پوكه، چې سړ يږي.

* ارزان بې علته نه وى، گران بې حكمته.

ارمان به كړې هلكه، بيا به نه مومې ادكه.

ا [illegible]ان چې ورزوستى عقل لومړى واى.

اره اره، يوم پر غاړه. (١)

* اړ سترگې نه لري.

اړد په اړد خلاصيږي.

* ازارى ته په ازارولو گناه نشته.

ازموېلى څوک نه ازمويى.

ازمايلى بيا مه ازمايه.

ازموينت اول په كال او تلين ؤ، اوس دم په دم دى.

* اسان يې نالول، چونگښو هم پښې پورته كړې.

اسمان لرې، مځكه سخته.

اسمان چې گړزيږى، هومرد نه اوريږى.

اسمان به ولاړ وى، لاڼ به مردار وى.

اسمان چې وريځې ښوروى، باران به وكړى.

(١) - دا متل دكندهار په سيمه كې ويل كيږي. اره اره دلته د زراعت كروندې په معنې دى.

کونډه چې سترګې تور وي، میړه به وکړي.

اس مې در کړ، خو پرې سپریږې به نه.

اس خپلې وربشې خپله زیاتوي.

اس پردی، سپور پرې میری.

اس دې له بله، لښته دې له ځنګله، چې نن یې نه زغلوې، نو لا کله.

اس لره، په لاس لره.

اس ششنی، خر رایی، غاتری نوری بلا وایی. (١)

اس که تکنی دی، میدان لنډ دی.

اس چې خدای خوار وي، نو یې یابو کړي.

اس یې هغو ته ورکړ، چې د تانګ د تړلو یې نه وُ.

اس یې په خرد بار کړ، خر یې پرې مردار کړ.

اس چې د خرو سره تړي، خر یې خری زده کوي.

اسان یې په سو وګټې، میړونه یې به خولو ګټي.

اسیاوان چې تسپې اړوي، ژرنده ګړی خطا کوي.

اسیل په ګډله کې، کم اصل په ګزبرد کې. (٢)

اسیل چې خوار شي، ته خاورې کیږې.

اسیل کوتیور، کم اسل خپږور.

اسیل نه ورکیږي.

اسیل ته اشارت، کم اسل نه کوتک.

(١) - دا متل د کندهار سیمې دی.

(٢) - دا متل د کندهار د سیمې دی.

اسیل ختا نه لري، کم اسل وفا نه لري.

اسیله ځان دې کچه کړ، چې پر توګ دې الچه کړ.

اشه ښه دد که ګوله، مه یې یوه وینې مه بله.

*اغزی له اولې وړځې تیره وي.

اغونده ګډله، خو، له پوره څخه زغله.

*اکویو په بل پورې پکو.

*الا بلا به ته کړې، لور او زوی به پرې مارډ کړې، دمولا جواب به څه کړې.

الف که څه نه لري، بې هم لښکر نه لري.

الحمد هغه الحمد ده خو، خوله دملا عثمان غواړي. (۱)

الو په شلتالو نه پیوندیږي.

* امانت مځکه هم نه خیانتوي.

امانت اوښ په نوا له نه وي اموخته.

اموخته خور، بلا خور.

اموخته خور، ښه دی که میراث خور؟ ویل یې: اموخته خور.

امیر یې ورکوي، شیخ میر یې نه ورکوي.

امیر چې ظلم کاروي، اور بل په تهول دیار وي.

* انا سپرد، کښود یې باندې.

انا مړ شود، تبه یې وشلیده.

(۱) - دا متل د کندهار خواته دا ډول ویل کیږي: الم نشرح هغه الم نشرح دد خو، خوله دملا عثمان غواړ.

انبار دې وي، خروار دې وي.

انسان، تابع د احسان دی.

انسان تر کاڼي کلک، تر ګُل نازک.

انسان بې وزره مرغه دی.

* اوباز یم، خو بې ګودره نه ګډېږم.

اوبو اخستی، ځګ ته لاس اچوي.

اوبه په اوبو، شیدې په شیدو.

اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

اوبه په ساره ځي، نه په جګوالي.

اوبه پورته وهه، کښته یې لار ده.

اوبه چې ترسر تېرې شي، څه یو نیزه، څه دوې نیزې.

اوبه په کمزورې ورخ ماتیږي.

اوبه د سر له خوا خړېږي.

اوبه که برې دي، تر پله لرې دي.

اور او اوبه نه سره یو ځای کیږي.

اوربشې څه په مځکه کې، څه په جوال کې.

اوربشې که د روپۍ سل منه شي، د خره په کې یوه لپه ده.

اور ته خپل او پردی یو دی.

اور له خپلې لمنې لګیږي.

اوړه دې په اوړه منت دې پر څه.

اوړه په موتي، غوري په ګوته.

(c) kitabtoon.com The Digital Library



اوړه خیشته پیشته کړی، منت پر تناره کړی.

اوړه د میچنی، زوی د خچنی.

اوړه که تمام دی، پیمانه خویې پر ځای ده.

اوړه یو موټی نه لري، تنور یې پر بام جوړ کړی دی.

اوړه یې یو موټی نشته، شل تر تنورو نه دی.

اوسپنه په اوسپنه ماتیږي.

اوسپنه چې څومره تکیږي، هغومره پخیږي.

اوس دې اوښی کړې، چې د ماشو پروړ دې پرې وخوړ. (١)

* اوښان نه ژاړي، بارونه ژاړي.

اوښ په خپلو متیازو کې ګوډیږي.

اوښ په سر باري نه درنیږي.

اوښ په غلبیل نه درنیږي.

اوښ تر پولې لاندې نه شي پټیدلای.

اوښ په بډه نه وهل کیږي.

اوښ له بارد ولوید، له بړبړ د ونه لوید.

اوښ چې یې په نته کړ، نو یې اوړ ته کړ.

اوښ دې اوسار کړ، نو دې په لار کړ.

اوښ ته یې ویل: الغبندی وکه، ده ویل: په کومو لاسو.

اوښ ته یې ویل: لوړ ښه دی که ځوړ؟ ده ویل: ددرو وارو دې بیخ ووځی.

(١) - د ماشو پروړ ته په ننګرهار کې کټی وایي.

اوبښ ته يې ويل: لويې وکه، دد جړونګان له بيخه وکنبل.

اوبښ ته يې ويل غاړه دې کږه دد، دد ويل کم ځاى مې سم دى.

اوبښ چې ولاړ، مهار يې زه څه کوم.

اوبښ که غټ دى هم دشيدو تمه ترې مه کړه.

اوبښ که هر څو نه لوى دى، الوتې نه شي.

ېښه! هر څه دې بې هوښه.

اوګره په تلوار نه سرېږى.

اوګره چې سرېږى، بلا پرې لګيږى.

اوګره ځنې توى شود، ويل يې په نصيب مې نه ود.

اوګره مو درته ساتلې ود، خو پاته نشود.

اول اتام، پسې کلام.

اول ځان، پسې جهان.

اول حق د ګاونډى دى.

اول زده کړه، بيا کوزده کړه.

اول سلام، بيا کلام.

اول ميړانه په سيالى ود، اوس سپيتانه په سيالى دد.

اول مې نه خوړې هزا سلاخې (۱) اوس د خوار پلاو محتاج يم.

اول هميانى ګورد، بيا نو شى رانيسه.

* ايلچى ته نه بند شته، نه زندان.

ايړا پور غواړى، بيړا نور غواړى.

(۱) - هزار سلاخه يو ډول ډوډى دد، چې ويشلې يې هم بولى.

# (ب)

* بابا ویل ، ادې به منل.
بابا چې غلا کوله ، اول به یې له ملا کوله.
بابا حلالوه پوخې (۱) یې مه حلاله.
بابا دې خدای وبخښي ، منګر د سهار په لمانځه کې سست ؤ.
بابا که لمونځ نه کاوه ، کفر یې هم نه وایه.
بابا که کار کم کاوه ، بیا یې محکم وایه.
بابا ګیلې کوی ، ادې پیرې کوی.
بابا لرې مې واده کړه ، چې ستا کنډولی واړه ګتورې کړم.
باچهان چې داو کړې پیروی خوری وس یې رسیږی.
باچهی باچهانو لره ښایی ، لویی خدای لره.
بادچه پاسنی شی ، د باران دستی شرنګی شی.
باران په تیرا ، وشو ، خرد یې د لړه موری یووړه.
باران وشو چاکو نه پټ شول.
بارونه یې تړل ، اوښانو ژړل.
بار یې په شانو شو ، وړای یو لرګی یې بل پر کښېښود.
بازار ته څه ورې ، ویل : طالع.

(۱) - پوخي دوری معنی لری.

باز چې خپله ځاله پرېږدي، ځای يې د پاچا منګول شي.
باز چې هر څومره خوار شي، چونګښې نه خوري.
باغ چې لانبن شي، باغوان يې خوار شي.
باغ د باغوان دی، ژرنده د ګرځي.
باغ که باغوان لري، چغال (۱) هم خدای لري.
* بتي کوتي چې خوار شي، نرۍ وريجې خوري. (۲)
بخت په تېندۍ دی، نه په منډه.
بخت چې د زور مل شي، هر کار يې جلبل شي.
بخت چې کوته شي، باچهان ټکرې خوري.
بخت په کوتۍ دی يا په کوځي.
بخنبنن په لک، حساب په کک.
* بد بانجڼ اپت نه لري.
بد بوټي بلا هم نه وهي.
بد به دې په زړه لرم، سلام به دې په خوله لرم.
بد به يم، نه له ورور سره.
بد په بلا اخته نه دی.
بد تربور په بده ورځ په کار يږي.
بد زوی، نه زوی.
بد عادت، چې زور ور شي، عقل مرور شي.

(۱) - چغال ته سور لنډۍ هم وايي.
(۲) - دا متل د ننګرهار د خوا دی بتي کوټ د يو ځای نوم دی.

بد مه راسره کوه، ښه دې نه غواړم.

بد مه کوه، بد به نه وينې.

بده مائينه پرينښوله کيږي، بد کښت نه پرينښوول کيږي.

بده مائينه، تنگه موچنه ده.

بده مائينه کړه لښته ده ، ماته به شي سمه به نه شي.

بده ورځ کله کله وي.

بد ياران په بده ورځ په کار يږي.

بدي پر بدي واوښت، بدي تښه ترې لاندې واوښت.

بدي چې نه کړې بدې چارې، بدي به چا واژه پر لارې.

* بداي يې له خوراه گټي، خوار يې له بدايه.

* برښه له لارې اوړي، اووري نه اوړي.

برج دې تر آسمانه، سپي دې له لوږې مري.

برج مې جوړاوه رانه کادانه شوه.

برخې تولې ازلي دي، نه په زور نه په زاري دي.

برخې ويشه، ميږو نه گورد.

برمته، د بدي بانه ده.

برد يې وهه کوزه يې لار دده.

بريت ښه بريت دي، خو په خوشې شونډه ولاړ دي.

بر يې شته، برکت يې نشته.

* بزه په خپل ښکر نه درنيږي.

بزه چې پر بام خيژي، ليود نه هم ښکنځل کوي.

* بلا بیده ښه وی، نه‌ویښه.
بلاه چې په مخ ونه‌وهی، پر شټ نه‌وهله کیږی.
بلا په‌مخ وهله کیږی، نه په‌شا.
بلا له‌هغه پاځی، چې یې ګرنګ تر پزې ځاځی.
بلا له‌خپلې لمنې پورته کیږی.
بلا وه، برکت یې نه‌و.
بلا وه که‌بلاګی، ابا یې مړ که په‌چورکی.
بل ته‌ګوته‌نیول کیږی او ځان ته‌نه.
بلخه بې تمیزه، لالی راغی بې کمیسه.
بللی، خور ولې.
بلمنګی خواږه دی، له‌پردیو څه‌مانه‌دی.
* بنیادم یو نور، جامه‌یې دوه‌نوره.
بن به‌دې تندی وهی، یوربه‌دې لینګی وهی.
بنده اریان، خدای مهربان.
بنده راشه‌دخدای خپل شه، لکه‌پر ځان هسې په‌بل شه.
بنده چې داد کړی، نو بیا یې یاد کړی، اللّه‌چې داد کی
نو بیا بې ښاد کی.
بنده‌لری نښلولې، مرګی لارې ورته‌نیولې.
بنده وتړل بارونه، مولا وکړه خپل کارونه.
بنیادم بې وزره مرغه‌دی.
بوچ له اختره‌خلاس دی.

بوري هم ژاړي، وراري هم ژاړي.

* بياله كه تر رود لاندي؛ اوبه ځي پكښې بهاندي.

بې چرگه به هم سبا شي.

بې ډوډۍ اوسې، بې كوره مه اوسې.

بې ډوله مه گډيږه.

بيړۍ په نيت چليږي.

بې زحمته راحت نشته.

بې زاره دې د خيره، خوسپې دې درگرزوه.

بې ستړه څوك جنت ته نه ځي.

بې ښځې سړی ښه دی، نه په كوركې هميش جنگ.

بې عقل دونه په بل نه كوي، لكه په ځان.

بې عقل جمال خوښوي، عاقل كمال.

بې عقل زوم د خواښې په پاتو ختا وزي.

بې گودره مه گډيږه.

بې كاري لنگيږي، خواري ترې زيږي.

بې كاري د بد بختۍ زانگو ده.

بې كسه بدې نه شي پاللای.

بې گودره چې گډيږي، خود به يې سين وړي.

بې ما دې شل نه كړه.

بې مزده كار مې نه زده، چې مزد راكې كار مې ښه زده.

بې ميوې ونه څوك په ډبره نه ولي.

بې وخته ميلمه يې له خپله بخته خوري.

* * * * *

# (پ)

* پاړوګرد مار له لاسه مري.
پاک اوسه، بې باک اوسه.
* پتهوم، پتهبهځم.
پر اخوند بنوروا هم ډیره ده.
پر اوښ سپور، سپیي وخوړ.
پر پچهوخوت، کشمیر یې ولید.
پر پوست سیکه نهوهله کیږي.
پر خره یوه لپه اوربشې ډیرې دي.
پر خره سپور، خر ځنې ورک.
پر خوږه مځکه هر وابنه شین کیږي.
پردی خر، شل منهوړي.
پردې غم تر واورې سوړ دی.
پردی خر، په شاز وروړ دی.
پردی زوی، نهزوی.
پردی سپی، پهډوډۍ خپل.
پردی جنګ، نیم اختر دی.
پردی کټ، تر نیمو شپو وی.
پردۍ غوښه پهځان پورې نهنښلي.

پردې موچنه پر پښه معلومېږي.

پردی مال نه خپلېږي.

پردی مور مه کړې سود منه، چې سل ښه ورسره وکړې، دا به تل وی گیله منه.

پردی دودی ترزر منه تیرې لاندې ده.

پردی ورکړه، نیمه خوا ده.

پردی خواړه یا پور دی یا پیغور.

پردو، تروو ته اوگره مه پخوه.

پرانده، شپه او ورځ یوه ده.

پر سر مې دې زړوکي وی، تر مخ مې دې زلمی وی.

پرښو تلوار، پر بدو تامل.

پر کور نگ نیم من دا نه ډیره ده.

پر لځه خیته یې ملا تړلې ده.

پر لوږه وخیژه ښار وکړه، ښو چې نور کړی هغه چار وکړه.

پر ملا یې لمبول دی، په خدای یې بخښل دی.

پر هغه دې خدای میلمه که، چې میلمه یې نه وی لیدلی.

پر یوه سړی چې دوه شی، رڼا ورځ پرې توره شپه شی.

* پړ مې کړه، مړ مې کړه.

پړ هم وراشه لری. (۱)

* پز پریکړې که شرم درلودای، دچړې نوم به یې نه اخیست.

(۱)- وراشه - اخلاق

* پسرلی دی ځان اګاه کړه ، ځان ته زیره غوا پیدا کړه.
پس له واده څوک سندرې نه وایي.
* پښتون سل کاله پس وار واخیست ، ویل یې چې اوس مې هم تلوار وکړ.
پښې موړ شو ، چې پاته یې کور شو.
پښه مې دې پاس وي ، که په خره وي، که په اس وي.
پښې هلته ځي، چې زړه ځي.
پښې لوڅې ښې دي، نه تنګې موچنې.
* پک په پمن پورې خاندي.
پک نه په سر تار لري، نه په چا کار لري.
پکه دادې لا بله سپکه.
پکې سر په خیال کې ، چې میړه یې شاباز خان دی.
* پګړی چې له سره ولویږي، په اوږو تکیه شي.
* پلار یې کړه، خو په لار یې کړه.
پلار یې ګټي، زوی یې خټي.
پلار یې په اته، زوی یې په شپیته.
پلار ګټیلی ، زوی ته هیڅ دی.
* پنډ یې مه ګوره ، ایمان یې ګوره.
پنځه ګوتې سره برابرې نه دي.
پنځه ګوتې په خوله مه منډه.
پنځه چرګانې په یو کور کې ښې دي، نه یو نسواري.

* پور په غاړه، میړه مرداره.
پور چې تر سل تیر شو، وچه یې مه خوره.
پور چې ډیر کوی، لور لری.
پور چې ځنډنی شی، خوردنی شی (خندنې شی).
پور چې ځنډنی شی، جنګنی شی.
پور په نه دولت حساب دی.
پور په ورکړه خلاسیږی.
پور ته ګورم پاڼ دی، کښته ګورم پړانګ دی.
پور دې پور، منت دې نور.
پور که د پلار شی، خواړه پرې حرام شی.
پوروړې به له نیستمن نه څه یوسی.
پور ورکړی، غلیم وژلی.
پوره ورک دې کړه، دوه کوره.
پوستین یو تودوی، بل نه ځایوی.
* په اوړی یې ګټه، په ژمی یې ښته.
په باد راغله، په باد ولاړه.
په یارانه کې تل بنګړې ماتیږی.
په باغ کې الو، په کلی کې بلرغو. (۱)
په باران پسې پتې ګرزوی، په خیرات پسې شکرې.
په بد نیت کلی نه ړنګیږی.

(۱) - بهلرغو - ایله ګرد

په بد زوی ښه پلار یاد یږی.

په بدلو څوک نه لویږی.

په بل وطن کې د ښو کنبت کوه تیریږه.

په پتیه خوله څه نه کیږی.

په پردی کور سل میلمانه هیڅ دی.

په پردی مال ځواني نه کیږی.

په پردی مُلک خانی نه کیږی.

په پوښتنه سړی مکې ته ځی.

په تیاره کې خپل سیورې هم نه ښکاریږی.

په تیاره پسې رڼا ده.

په مرګ یې ونیسه، چې په تبه راضي شي.

په تیر پسې تر تاب نشته.

په تش ګومان، بد بخت وخوړ خپل ایمان.

په تش لاس چې اخلاص کړی، څوک به خلاس کړی.

په تول بابړ، یو لوړ.

په جنګ کې مړی کیږی.

په جنګ کې یو ګام دسلو کلو لار ده.

په ځنګله کې یې وزیږوه، په بازار کې یې لوی کړه.

په مځکه کې چې کانډیال وی، د بادار یې تش جوال وی.

په څاڅکي څاڅکې ډنډ جوړیږی.

په چا چې د خدای نظر شی، تورې خاورې ورته زر شی.

په چغل کې او به نه دریږي.

په غلبیل کې او به نه راوړل کیږي.

په خپلو خپل، په پردیو پردی.

په خپله خر نه لري، د بل په اس پورې خاندې.

په خپله ډوډۍ موړ، په کلي نازولی.

په خپل کور میږی هم زورور دی.

په خوارۍ څوک بد نه ایسي، په بې کارۍ بد ایسي.

په خوراک یې نه یم، په خرپ یې یم.

په خوله «لا اِله»، په زړه غلا.

په خوله خوږ، په زړه کوږ.

په خوله دې شین پسرلی، په زړه دې کړنګ ژمی.

په خوله صاف، په زړه خلاف.

په خولۍ تنګ، په ګیډه لوی.

په درنو دروند، په سپکو سپک.

په دستر خوان هر مچ زمری دی.

په دوه بیړیو پښې مه ږده.

په دنیا باور مه کوه، ګاهې لوړ دی، ګاهې ځوړ.

په ډیرو کښې یې خوره، په لږو کې یې ویشه.

په ډیرو لیونی خوښ دی.

په رنګ ښایسته، په عمل خوار خسته.

په ړندو کې چیک اغا دی.

په ړندو کې يو ستر ګی پاچا دی.

په زړه هوښيار، په خوله بې کار.

په ژرنده کې دې شپه شه، د زوم کره دې مه شه.

په سپين سر، مزل په سر.

په سپي د خاوند زړه بديږی.

په ستړې مه شی، دچا څه شی، زړه پرې ښه شی.

په ستر ګو ګورې، په زوی لورې.

په سړو کې توپير دی، څوک لال دی، څوک کورت کانې.

په سره سينه چې کيږی، په جنګ کله موندل کيږی.

په سلو وهلی ښه دی، نه په يوه پړ.

په شرم هغه شرميږی، چې په شرم پوهيږی.

په شوتلو کې چې وابنه کوی په دې کې يې هم چل دی.

په شلومبو که چاغيدلې، غړکه به چاغه وای.

په شيدو سوی، مستې پو کی.

په شمله دې شوم غلطه، کور ته چې دې راغلی، يو د اوښه بله کته.

په ښادی دې ښاد نه شوم، په غم دې توره تلبه وسوم.

په ښه پردی خپليږی.

په ښه ورځ هم بده ورځ نه هيريږی.

په ښه کې ورور، په بده کې پيغور.

په صورت کې نری دی، په کار ګړندی دی.

په ظاهر دوست، په باطن وروست.

PROPERTY OF ACKU



په عُمر کشر، په عقل مشر.

په غرمو يې وګټه، په سيورې يې وخوره.

په غره کې اور بليږي، سورناچې ورته نڅيږي.

په غم کې نارې وې، په ښادۍ کې نغارې.

په غوجل کې چې يوه وميږی (۱) رنګ د ټولو بد کړي.

په کام پسې ناکام دی.

په کلي دعوه ده، په ډم ناره.

په کور کې يو ټک دارو نلري، پر ځان يې نوم غمباره ايښې ده.

په کور کې نه کوک نه پياز، اروږی د وازګو.

په کولمو کې خواږه کوچ، خبرې د غورمچ . (۲)

په ګازرې نه يم، په خرپ يې يم.

په ګټه نه پوهيږي، خوراک ته يې کړيږي.

په ګُرزيدو نه مري، په کښيناسو مري.

په ګورم کې يې غوا نه درلوده، د ګوروان سر يې مات کړ.

په ګوړه ويلو، خوله نه خوږيږي.

په ګوشته کې هم ځوانان شته.

په ګيډه مې شوتل دی، په ملا مې توره سپر دی.

په لاس کار، په زړه يار.

په لاس کې يې شړشم زرغونيږي.

---

(۱) - ميږل- متيازې کول.

(۲) - غورمچ- دمچانو شورماشور.

په لیمڅو کې اوږ پښتنه لټوي.

په دم دي وابنه پور دی، نه چي کبلي.

په مځکه تیورې نه لري، په اسمان ستوري.

په مرگ یې ونیسه، چې په تبه به راضي شي.

په مړو ایرو کې، د کې مه وهه.

په مسجد کې لمونځ او کتاب، په چوک کې چلم او رباب.

په ملنګ، څه کلنګ.

په نا ازمویلي اشنا، باور نه شي کیدای.

په نابلده سپي هر سړی غونډې واروي.

په ناسته غومبر نه کیږي.

په نهو میاشتو کې نه پخیږي، په نهو ورځو کې پخیږي.

په وهلو څوک نه سمیږي.

په هر شي کې ښه او بد شته.

په هر غار کې گوتې مه منډه.

په هغه واله کې چې اوبه تللي وي، بیا راځي.

په هندوستان یې گټي، په چوره گلي یې بایلي.

په یوه هلو کې دوه سپي په جنگ اچوي.

په یارانه کې بنګړي ماتیږي.

په یوه باندې چې دوه شي، ړنا ورځ پرې توره شپه شي.

په یوه بړستن کې دوه لوڅ نه پټیږي.

په یوه تیکي کې دوه توري نه ځاییږي.

په یوه ځپېره دوه مخه خوړېږي.
په یوه زین کې دوه تنه نه ځاییږي.
په یو ځنګله کې د دوو زمریانو شپې نه سبا کیږي.
په یوه کتاب څوک نه مُلا کیږي.
په یوه ګل نه پسرلی کیږي.
په یوه ګیډه دوه منته مه اخله.
په یوه لاس کې دوې هندوانې نه اخستلې کیږي.
په یوه مړي موړ شوې، په ټول کلي سور شوې.
په یوه موزه کې دوې پښې نه ځاییږي.
په یوه ودانه، په دوهم ورانه، په دریم ډاګ ډګنی. (۱)
* پیاز دې وي، په نیاز دې وي.
پیریانو ته، غزنی څه دی.
پیر که خس وي، د مرید بس وي.
پیر نه الوځي، مرید یې الوځي.
پیشو چې ایسارہ شي، ونې ته خیژي.
پیشو چې جنګ کوي، منګولې مخ ته نیسي.
پیغله که هر څو مټه کوره وي، تر کونډې خوندوره وي.
پیل که له تندې مړ شي، یو زنګون اوبه یې لا په نس کې وي.
پیل چې ژوندی وي، یو لک وي، چې مړ شي، دوه لکه شي.
پیل تلی، تلی پر پکې ودریدی.

(۱)- ډاګ ډګنی- سپیره میدان.

# (ت)

* تا بەولی، ما بەخوړکی.
تاتەیې لور پخوی، موږ تەیې تنور پخوی.
تاتە یې ابی پخوی ، ماتەیې تبی پخوی.
تا زیان چې هوسی نیسی، دهغو خولې توري وی.
* تر اوبو دمخه گاولې. (۱)
تر تنارە یې موری لویه ده.
تربور تە بې وروره مەشې ، وروره تەبې زویه.
تربور وژنه، خو شرمود یې مه.
تربور چې خرشی، پې مه سپریږی.
تربور کەهر ثومره خوار شی، دخره گمان مەوربانديې کوه.
تربور د ترږمی موږی دی.
تر بې عقل دوست، هوښیار دښمن ښه دی.
تر بې عقلې ناوې، هوښیارد کونډه ښه ده.
تر بیکاری ، بیگاری ښەده.
تر پردی زوی، خپلەلور ښەده.
تر پردی مصری توري ، لور پر غاړه ښەدی.
تر تیاري، برخەمەتیرېږه.

(۱) - گاولەیو خاص ډول دپښو بوښ دی.

تر تشه ولاړه، په خرپ نړیدلې ښه ده.

تر توري وهل، ډوډۍ ورکول ګران کار دی.

تر څو چې رښتیا راځي، دروا‌غ به کلي وران کړي وي.

تر څو چې یږ مړ نه کړې، پوست یې مه خرڅوه.

تر خویښ نس، را پیښ.

تر خوړلی، لا امید ښه دی.

ترخه خوره، خو ترخه مه وایه.

تردې یې تیر، هغه نور یې ستا ګنډیر.

تر رمې یې، سپی ډیر دی.

تر رنګ یې، خوند ښه دی.

تر زرین پوښه پیاده، دغوایي سپور ښه دی.

تر سړي ګټې، تود تاوان ښه دی.

تر سلو داوو، یوه برمته ښه ده.

تر سلو منو خوړلي، یو چارک کرلې ښه دی.

تر کوره به درسره یم، نه تر ګوره.

تر شیر یې، په ښوروا خوشاله دی.

تر مزد یې شکرانه ډیره ده.

تر پروت زمري ګرځند ګیدړ ښه دی.

تر مور و پلار خوږي راځه که غوښې خوري.

تر نکل یې وپوهیدې ډیر دی.

تر وژلې ورور، پرې ایښې ګومل ښه ده.

تر ورخ تیرې او به، بیرته نه راګرځي.

ترور، نیمه مور.

تر پښو لاندې ځمکه مه ګوره، لرې واټن ګوره.

تر وهلو یې په ځغلولو ستړې کړې.

تریاکي، دوه په ایکي.

تر ویش یې په چور خوشاله دی.

تر یوې خُرما، دوې وڅکې ښې دي.

تر پلې ښه دی، نه وتلی.

* تږې په خوب اوبهویني.

* تش لاس، نر ښځه کوي.

تشه لاسه ته مې دښمن یې.

* تلتک د میلمانه، کوسې د کوربانه.

* تلخي د ځنکندن ده، که دې شپه پر بل وطن ده.

تنباکو که ترخه دی، عملي ته خواږه دی.

* توبه (۱) د میړو خالي ده.

توبه باید دستی وی، هسې نه چې په سستی وی.

تو تکی وایی بې ازاره ده، ویل د چمن چنجیان و پوښته.

تور په توره شپه اخله، چې زیړ وینې شین مه اخله. (۲)

تور د تورې دی، ژیړ د نجونو.

(۱) - د کندهار په جنوبي سرحد کې، د یوې علاقې نوم دی.
(۲) - دا متل د بزګرو دی او مراد ځنې غوا یا غویی دی.

تور ليمځى په صابون نه سپينيږى.

تورى په اصل غوښه كوى.

توره سره ښه ده، خونه د ورور په وينو.

توريالى، تول ننګيالى.

توريالى له شا نه واهه كيږى.

تورى به لالا وهى، مړى به عبدالله وهى.

تورې چې باتيږى، جګړه پيښيږى.

تورې چرګې سپينې هګۍ اچوى.

تورې نور ځوانان وهى، منصب سدو خورى.

تورى سكان وهى، كږې پګړوى هندوان وهى.

توزنه هيله د خداى له كرمه وتلې ده.

توكُل نر دى، انديښنه ښځه.

توكلى ناړې بير ته خولې ته نه راځى.

* ته به يې خپل وبولې، دى به دې زوم وخيژى.

ته تر ما جار، زه تر تا جار.

ته خو حينګ داړى وې، زه دې له خندا مړ كړم.

ته خو د ډاګ وې، زه دې درسره د ډاګ كړم.

ته خو د غور وې، زه دې له كمرو وغورزولم.

ته خو د غونډو وې، زه دې هم دغونډو كړم.

ته مې بزې وهه، زه به دې روژې وهم.

* تياره بدان خوښوى، رڼا نيكان.

تیږه تیږه ماتوي.

تیر په هیر.

تیږه په خپل ځای درنده وي.

تیږه ځي ځي دخوار په سر لګي.

تیغ په جوهر خوراک کوي.

تیږه چې پرته وي، هوري درنه وي.

## (ټ)

* ټال کې ځنګیده، په سر کنډو ودریده.

ټپوسه خپله پوسه، تاته چا ویل چې د بل چرګوړي نیسه.

ټک له دواړو لاسو خیژي.

ټینګ عزم غرونه ماتوي.

(((*****)))

# (ج)

* جار تر هغه زوی، چې تر هغه چا وی نیک خوی.

جار دې شم روپۍ، چې هم سپر یې هم ګډۍ.

جامه چې د پور شی، په ځان پورې دې اور شی.

اجمې خو دې ښې دی، چې په ګیډه ځنګه یې.

* جاهل ته دوه ځله سلام اچوه.

جغ پر غاړه، او جغ غواړه.

* جفا مرګی ښه ده، نه بې اتفاقی؟

* جنګ په وسله، ننګ په غله.

جنګ په شید یاره ښه دی، نه په خاره.

* جنګ پر خاره ښه دی، نه پر شیدیاره.

جنګ جنګی کوی، ننګ ننګی.

جنګ میړه او سپی ژر ښکاره کوی.

جنګ چې نه کوی، د بره لویه اخلی.

جنګ سوړ شو، میړی تود شو.

* جوړ صورت چې وی، نیستی نه باندې ورځي.

* جولا شوی نه یې، بیا دې نیچې پتې کړې.

# (ځ)

* ځراغ چې په کور کې لګیږي، بیدیا ته څه حاجت دی.
* ځښتن په سپي حُکم وکړ، سپي په لکۍ.
ځښتن یو مزل کوي، سپی دوه.
* ځمځه په ځان غره شوه، چې په دې اوګره سړه شوه.
ځنګه چې سوال، هغسې یې ځواب.
ځنګه چې ژرنده، هغسې یې دوړه.
ځنګه چې دې کور دی، هسې یې زړ تور دی.
ځنګه جومات، هسې، بروزې.
ځو چې و نه ویشل شي، خبر به نسي.
ځوک ځان غواړي، ځوک جهان.
ځوک چې لاس درپورې ښند کړي، مه یې غوځوه.
ځوک چې زحمت ونه ګالي، راحت به ونه مومي.
ځوک چې دې طلبګار وي، هغه به دې یار وي.
ځوک چې بار وړای نه شي، اوره نه ورته نیسي.
ځوک چې له قامه لرې اوسي، باد به یې یوسي.
ځوک چې پر مخ ځي، باید تر شا وګوري.
ځوک چې خوبونه کوي، میښه به یې ترکټي زیږو.
ځوک چې غوا خرځوي، له پړي به یې تیریږي.

څوک مه وهه په ګوته، تا به نه ولي په لوټه.

څوک مه وهه په نوک، تا به نه وهي په سوک.

څوک نه وايي چې زما دغر کې خوند بد دی.

څوک وايي، څه وخورم، څوک وايي په چا يې وخورم.

څو کوچني ونه ژاړي، مور تی نه ورکوي.

څو نه چې خرګي، هغو نه يې بارګي.

څو يې ونه شاربي، کوچ نه کوي.

څو يې چې شاربي، کوچ کوي

* څه مې په هغه پسرلي، چې نه مې غوا څري، نه خوسي.

څه توره تيره وه، څه انا وروسته وه.

څه چې په ديګ کې وي، په څمڅې کې راخيژي.

څه چې په کټوي کې وي، هغه په څمڅې کې وي.

څه خوره، څه پريږده.

څه د کوره، څه د پوره.

څه په هغه چار، چې نه دې مور کړي وي نه پلار.

څه نه وو، چې په مادې ونه کړه.

څه راوړه، څه به يوسې.

څه زه بد وم، څه دښمنانو لاسونه راپسې وتړل.

څه غر پنا، څه ور پنا.

څه ژرنده پڅه وه، څه غنم لامده وو.

څه لاس تر منځ، څه غر تر منځ.

څه مړه، څه ماړه.
څه موړ لنګه، څه ترور.
څه وهلي، څه پورې وهلي.
* څې کوې، چې نې کوې.

## (ځ)

* ځائې پوز غواړی، توری نورې غواړی.
ځان ته ښه وايي او ښه نه کړی.
ځان ځاني، خپله خواری.
ځان دې وخوری نوکری، چې به لړو ډیر لری.
ځانه ځانه، تر هر چا ګرانه.
* ځلمی دځوانی په نیشه مست وی، دچا نه اوری.
* ځنګل چې اور واخلی، وچ او لانده تول سوځی.
* ځوان پر غړی، زوړ پر لری.
ځوانه ښځه د زاړه خوا وهی.
ځواني نه پتیږی.
ځواني د زړو روپو آس دی.
* ځای ته ګوره، بیا نو ښوره.
ځای در تنګ، اوبه در خړې.

# (ح)

* حاجي په مکه کې لټوه، چرسي په تکيه کې.

حال منصور وايه، چې سر يې په دار شو.

* حرام چې دچا په کور ننوتلی وی، حلال يې هم ورسره تللی وي.

* حساب په مثقال، بخشش په خروار.

حساب په کک، بخشش په لک.

حسد هسې نيکي خوري، لکه بل اور چې لرگی خوري.

* حق آخر حقدار ته رسي.

حق خپل ځای نيسي.

حق په تا، حق له تا.

حقې روژې تيرې دی، نفلی زه نه نيسم.

* حيادار حيا کوله، بې حيا ويل: زما څخه بيريږي.

حيوان قيمت په بارداری جگوی، انسان يې په کارداری.

حيوان چې بې کاره شي، هم خوړل کيږي، هم خرڅيږي.

# ( چ )

* چا په کلی کې نه پرېښېود ، ده ویل آس مې د ملک کره وتړی.
چا په ورا کې نه پرېښېود ، ده ویل د مخ اوښ زما دی.
چا ته چې شی نه ورکوې، ورته ښکاره کوه یې مه.
چاړه چې د سرو زرو شی، څوک یې په نس نه منډی.
چا مونده ، ما مونده.
* چته زوړ ووینې، په ړیره یې پروړ ووینی.
چته چې ځوان ووینی، صورت حیران ووینی.
* چرت یې واهه، خورجین یې بایلود.
* چرسی چې موزی نه وی، په چلم کې لا سخی وی.
چرسی زوی ، نه زوی، تریاکی ، دود په ایکی.
چرګ په تالې کې ګوره.
چرګ دې یم، حلالوه مې مه.
چرګ په ډیران مه ګوره، پر کاسه یې ګوره.
چرګ چې نتیږی، زړه یې تنګیږی
چرګ چې ځوان شی، پر بام ورو ورو ځی.
چرګ په پردیو غوړو مست وی.
چرګ پر بام کرار ته ، ویل یې چې بام تر ما لاندې و نه نړیږی.
چرګ د مالګی په څکلو څه پوهیږی.

چرگ یو مارغه دی، چې چاونیو دهغه دی.

چرگه مې ناجوړه ده، بانه مې ورته جوړه ده.

چرگه چې ببره شي، له پیشي نه کمه نه ده.

چرگه د جولا لاړه، نوم د ملک وشو.

چرگه زما، هگۍ د بل کره اچوي.

* چغال ته الو نه رسیده، ویل پې دا تروه دی.

چغال پر نعمت شکر کیښ، چرگ یې د خولې ووت.

چغری ښنتن نه موند، امر خیلو وطن؟

چُغل په خوی غل، چې چُغلی کوی د بل.

* چور په اجاره دی.

چوغکې دی، یو تر بل چابکې دی.

چې اړ شي، وخره ته هم ماما وایي.

چې اختر تیر شي، نکریزې په دیوال وتپه.

چې اوبه وي، تیمم ته څه حاجت.

* چې اوبه نه وي، ژوندون گران دی.

* چې اوبه ته وایی «پانی» سر یې لاندې که ترکانې؟

چې اور یې بل شي، خدای یې مل شي.

چې اوش دی کړ، ویې تړه؟

چې اول لري، آخر نه لري.

چې ایمان وي، مرگ څه دی.

چې بابا ژوندی ؤ، د ادې په لاس کودې ؤ.

چې بابا ژوندی ؤ، هلته ادې اده وه.
چې بابړ یې، زما په کتاب پړ یې.
چې بادار حضور شي، مریی تړور شي.
چې باد نه وی، ونه نه ښوري.
چې باد یې وی د پاسه، باران یې سمدلاسه.
چې باد یې وی د کښې، وریځ زغلی لکه بزې.
چې بتې خوری، مولی به زغمې.
چې بخت نه وی، ډاندس نه زده کیږی.
چې بخت یې تور شي، دښمن یې د پلار کور شي.
چې بد کوی، بد به مومی.
چې بد کوی کارونه، هغه بد وینی خوبونه.
چې بد گرزې، بد پرزی.
چې بده غواړی، په بده به واوړی.
چې بل یې وخوری، گل به شی.
چې بې ځایه اشنایی کړی، اور بل په خپل تندی کړی.
چې بی قامه شی، بې مقامه شی.
چې بې ملوځی، تور مار یې پر آوږو ځی.
چې درانه بارونه وړی، خوراک یې ځوز دی.
چې پال گورم ښه راځی، چې یار گورم ښه نه راځی.
چې پردی کورته یې طمعه شی، یو من غوښه یې کمه شی.
چې پر لوره گرځی، پر ژوره پرزی.

چې پزه و نه لري، د ختمو نه ، نه جوړېږي.

چې پزې يې وې پيتې، هغه ناستې وې مزبوتې.

چې پلار يې وز نه وي ويشتلى، مور يې غوز نه وي ويشتلى.

چې پوخې خورې، متار به سهي.

چې پور گنې، نور و گتيه.

چې په پته وي، په ښکاره لنگيږي.

چې په تا درشم كور نه وركې، چې په ما راشي خوركى.

چې په تمه د سور وشي، هغه پاتې په مير وشي.

چې په ځان كې ويني، په جهان كې ويني.

چې په ځان يې خوري خاورې كيږي، چې په بل يې خوري، گل كيږي.

چې په خره دې كار نه دى، ايشه ورته مه وايه.

چې په ډير حرص يې غواړي، هغه كم خوري.

چې په ډير يې واخلې، په لږ يې مه خرڅوه.

چې په ډكه كاسه موړ نشي، په څټلو يې نه مړيږي.

چې په ډله كې دوست نه وي، مه پكښې كښينه.

چې په زور ورسره نه يې برابر ، دهغو تر څنگه مه كښينه زړه ور.

چې په كار شرميږي، هغه كله پورته كيږي.

چې په كوركې غوړي مومي، ليونى به غړو ته درومي.

چې په مرگ يې ونيسى، په تبه به راضي شي.

چې په ميله كې سوړ سگ خوري، كور به څه خوري.

چې په ناز و لويږي، په زيار زړيږي.

چې په نیمه شپه بیدار یې، که نابلد یې زما بار یې.

چې پیر یې زورور وی، مُریدان یې زنځیرونه ماتوی.

چې پیر وی، فقیر وی.

چې پیلان ساتی، پیلخانې به لوړې جوړوی.

چې پیلان ساتی، دروازې به دنگې جوړوی.

چې تا وکړل، ما وريبل.

چې تر ملکه دې کړه، نو ورکه دې کړه.

چې تل ځی په غدیٰ، یوه ورځ به یې وی د کم بختی.

چې تورې په تیرۍ شی، پل په اشرپۍ شی.

چې تورې چلیږی، وینې بهیږی.

چې تورې وهی، تور زن یې بولی.

چې ته مې ولیدې، په ځان مې شکر وکیښن

چې تیار وی، هغه د یار وی.

چې تیر شول، هغه هیر شول.

چې چرگ نه ؤ، اذان چا کاوه.

چې چم لری چمتو دی، چې چم نه لری هندو دی.

چې چنگښې وایی غار، ترکی وایی کندهار.

چې چنگښې وایی کور، ترکی وایی مقر.

چې حج حج لرې، یو وخت به حاجی شی.

چې خان یې په یاران یې، چې یاران درسره نه وی، تورې خاورې د بیابان یې.

چې خاوند یې لیتې خوري، د سپو به یې څه حال وي.

چې خاوند یې نیني چیچي، نو سپي ته به څه وراچوي.

چې خبر شي بې اثر، ترینه پټه خوله بهتر.

چې خپل دې وي خوره، چې خپل وي نه وي مره.

چې خپل دې پکښې نه وي، په هغه مرکه کښې مه کښېنه.

چې خدای یې چاته ورکوي، د شالیزو او داؤد زو تر منځ یې ورکوي.

چې خدای یې شرموي، داس په سر به یې سپي خوري.

چې خدای یې ورکوي، بتمل یې (۱) یار دی.

چې خدای یې کوي، هغه به وشي.

چې خر نه لري، په خره نه ارزي.

چې خر نه شي، غوړ به نه شي.

چې خوري، نه مري.

چې خوله خوږېږي، زړه بدېږي.

چې خوله لري قراره، نه به بوره شي نه وراره.

چې خوی بد شي، پلمې ډېرېږي.

چې خیر دې نه رسیږي، بد مه رسوه.

چې خیر تاته در کړم، ابې به په څه شي پورې باسم.

چې داختر کالي دې دا دي، د لوبه دې لا کوم وي.

چې دا غړ که کوچ کړي، طالبان به راته وچ کړي.

چې دا ملا کیسې کړي، ما به غونډه وریسې کړي.

(۱)- بتمل یو ډول هاونګ ته وایي، چې بنګي پکښې زدول کیږي.

چې د بل مور بور وې، ستا به هم بوره کي.

چې د بنگو بتمل زدويي، اخر به بنګي شي.

چې دجان‌شي تر سر تيره، خداى دې نه کړي دانا بوده دنيا ډيره.

چې د خداى وعده پوره شي، د بنده سخه به پخه شي.

چې د ددو بنځو ښښتن وي، سخت به يې ځنکندن وي.

چې درانه باړونه وړي، خوراک يې ځوز وي.

چې دردي شي په ستوني، ستا به هير شي زوي او لوني.

چې دروند نه شوې، نو سپک به څه شوې.

چې درومي، څه به مومي.

چې در يې نه کړم، ازار دې به څه کړم.

چې د ړندو پر کوڅه راشي، پر يوه سترګه لاس ږده.

چې دې زده کړه په طفلي، هير به يې نه کړي تر پيري.

چې دزړه وکړي، اوګرې ته به هم تبې وکړې.

چې دسترګو نه لرې شي، د زړه نه به هم لرې شي.

چې دشپې لاړ نه شې، د ورځې به ځاى ته ونه رسيږې.

چې د کاسې په منځ موړ نه شې، په څنډو به يې هم موړ نه شې.

چې د ګور سختي په زړه کړم، زه به ولې ژړا نه کړم.

چې د ګنډلو نه وې، ولې دې څيره.

چې د ګيدړې په جنګ ورځې، تا يه دزمرى نيسه.

چې د ملا غواړې، خداى دې نغاړې، چې ملا ته يې ورکوى.

خداى ته يې ورکوى.

چې د نیا شی په ما تیره، خدای دې نه کړی دانا بوده دنیا ډیره.

چې دنیا درغله ځای ورکوه، چې تله لار ورکوه.

چې دود نه وی، سود نه وی.

چې دوستی کوی په زړ مه بیریږه، چې دښمنی کوی په سر مه بیریږی.

چې ډب نه وی، ادب نه وی.

چې ډوډۍ وی، بې دسترخانه هم خوړله کیږی.

چې ډول دې وی په ځنګ، د وهلو یې څه ننګ.

چې ډیر وایی، لږ خیژی.

چې راځی دبل د کوره، پرتا به شپه شی تکه توره.

چې راپورې دی نه کړه، راځخه پرې دې په څه کړه.

چې رارسیږی د سوات بیستی (۱) دخورانو به ښکار شی سرې پنډی.

چې وخت لری، بخت لری.

چې روپۍ وی برګې، چپلۍ ډیرې وی.

چې زر وی، زاری د څه ده؟

چې زر لری، خبر لری.

چې زور نه وی، خواره ږیره به څه وکړی.

چې زده کړې درویزه، هیره به نه کړی دا مزه.

چې زړه خوږیږی، له ړوندو سترګو هم اوښکې ځی.

چې زړه تنګ نه وی، ځای نه تنګیږی.

چې زړه یې غواړی، خوله یې هم وایی.

---

(۱)- بیستی خامتا ته وایی.

چې زما پر زړه یې لیکلي، څه پاچا څه لنګ وهلي.

چې زما سره ځي، تل به توري وڅکي خوري.

چې زور تیر شي، عقل هیر شي.

چې زور د زورور شي، پتي له تخمه سره خپل شي،

چې زه کونډه یم، پر دنیا دې میړو بنې نه وي.

چې زیار کاږي، ګټې د هغو دي.

چې ژرنده یې ګرزي، بلا یې پرزي.

چې ژوندی وي، قلندر وي، چې مړ شي چغندر وي.

چې ژوندی یم ښه مې غواړه، چې مړ شوم مه را پسې ژاړه.

چې ږغ شي دشکنې، زړه مې ښه شي که یې منې.

چې سبا شي غم پیدا شي، چې بیګا شي، غم پنا شي.

چې ستا له کوزه راځي، په غلبیل کې دې راځي.

چې ستا بې ما رغیږي، زما هم ساعت بې تا تیریږي.

چې سر وي، خولۍ ډیرې دي.

چې سر دې نه خوږیږي، داغ پرې مه ږده!

چې سره ونه میږي، (١) سره به ونه ګټي.

چې سر و مال ترې جار کړې، نو هر سړی به یار کړې.

چې سم دچا ویل وي، په هر چا یې منل وي.

چې سود کوې، سودا به مومې.

چې سیلخکې خورې، نیغکې به زغمې.

(١) - میږل: مینه کولو ته وایي.

چې شپه تیاره شي، بدان تیره شي.

چې شپه یې تر منځ وي، له هغې بلا مه بیریږه.

چې شرم نه لري، ایمان نه لري.

چې ښه وي، بد دې اور واخلي.

چې ښیرې کړی، هغه به خپلې مینې سپیرې کړی.

چې طلب یې کوې، پرې پیښ به شې.

چې عقل نه لري، پر کوربې تل غم وي.

چې عقل یې ویشه، ته چیرې وې.

چې عقل یې کم وي، زیات یې غم وي.

چې غټ شي پرن دې بولي، چې ډنگر شي کرن دې لولي.

چې غټ وي، لټ وي.

چې غل نه یې؛ له باچا مه بیریږه!

چې غل نه تښتي، مل دې و تښتي.

چې غل نه یې؛ د جوال خوله مه ورسره نیسه.

چې غلې غلې باسي، هغه تل کانې پرې باسي.

چې غواړي، پرې واوړي.

چې غوټه په لاس خلاسیږي، حاجت خولې ته نشته.

چې قاضي دې مدعي شي، دعوه به د چا سره کوې.

چې څه کرې، هغه به ریبې.

چې کډې دې زیږاوه، غم به یې ورې.

چې کلي په نامه لري، یو خوی تر نورو ښه لري.

چې کوچنی وی پر پښو ځی، چې لوی شی پر واږو ځی.

چې کوچنی ونه ژاړی، مور تی نه ورکوی.

چې کور پر غره لری، هم نوی هم زاړه لری.

چې ګُل کړې، ګُل به ریبې.

چې لاس په خوشیو نه شی، خوله به په غوړو نه شی.

چې لږ خوری، هغه تل خوری، چې ډیر خوری، زهر ګندیر خوری.

چې لوی غاپی، کوچنی تراپی.

چې له ځانه مست نه وی، په بنګو نه مستیږی.

چې له خدایه پټه نه وی، د بندګانو یې ولې پټوی.

چې له یاره وایی، له ځانه وایی.

چې لیوه میږه خوری، په توره شپه یې خوری.

چې مالګه وخورې، لوښی مه ماتوه.

چې مربی لرې، مربا خوره.

چې مړی لرې، میلمه ګی څه دی، چې ایمان لرې مرګی څه دی.

چې مړه شی امیران، نیمګړی نه دی دا جهان.

چې مړ شو، هغه پړ شو.

چې مړه شی مومنان، یا به باد وی یا باران.

چې میلمه شې، آسوده شی.

چې میړو نه وی، هلته کورونه وی.

چې مشر یې غمبر وی، اختریې مازیګر وی.

چې مور دې نه وی په پلرګنی، هورې ولې ځې لیونی.

چې مور لري ادکه، په صفت به يې واده که.

چې مال لري، اقبال لري.

چې مور يې بتياري وي، زوی يې نه فتح خان کيږي.

چې مور ميره شي، پلار پلندر شي.

چې ميښه زهير وي، کټی يې وهه.

چې ناچاري شي، سړی تورې ته هم لاس اچوي.

چې نرکچور درسره نه وي، بوی دې نه ځي سور لرگيه.

چې نري وي، زمري وي.

چې نغده دې وليده، څنگه دې وخندل.

چې نغری سوړ وي، اولاد به يې کله موړ وي.

چې نه ځې په شا به دې کم چې نه خورې څه به دې کم.

چې نه ځنې خلاسيږې، بړبړ پرې وړځه!

چې نواله خورې، جانباز به وهې.

چې نوم دې دغله دی، ناستې دې په څه دی.

چې نوم يې وي شړی، څه پيړه څه نری.

چې نه دې وي غله، مه دې اس مه دې گله.

چې نه دی وی سړی، مه نغن خوره مه غوړي.

چې نه دې وينم، آخر به مې هير شې.

چې نه دې وی له موره هسې مه وايه چې وروره.

چې نه دی وی له پښته، له هغو کسانو تښته.

چې نه دی وی غمخور، پاتې دې مشه ميراث خور.

چې نه غواړم ، هغه مه را پیښوې.

چې نه کار ، هلته څه کار.

چې نه کوې حبیب، څه به وکړي خوار طبیب.

چې نه کوې ننگونه، هغه پس کوې مړونه.

چې نه لرې هلک، هغه کور د تیغ لایق.

چې نه لرې سړی ، نه دې کورت خورې، نه غوړي.

چې نه لرې باغچې ، هغه دې نه خورې الوچې.

چې نه لرې پنگه، کښېنه د چا له څنگه.

چې نه منې د یار پندونه، لاس به نسې په سرونه.

چې نه وې پیا کرلي، څه به یې وې ریبلي.

چې واک یې د مور وی، کانې یې په کور وی.

چې وخورې د نر لغته، داسې به کینې لکه اورته.

چې وخورې پیتې، سر دې کښېږده په لښتې.

چې ودې نه پوښتي ، مه گډېږه.

چې ولاړ شې تر بلخه، درسره ده خپله برخه.

چې ولویدې د اول بخت، بیا دې نه وینم دوهم بخت.

چې وې غواړې په خوله، خورې به یې په څه.

چې هر څنگه وړی شی، تانتې لا نه چیچي.

چې هلک دې ملک شو ، کلی دې ورک شو.

چې هوړه و نه خوری، له خولې یې بوی نه ځي.

چې هوس دی، دغومره بس دی.

چې هوسی نیسی، د هغو تازیانو خولې توري وي.

چې یاري کوي، شوګیري به تیروي.

چې یو لور یې تر ملا وي، مه یې څنې رغوه.

چې یو مړ نه شي، بل به موړ نه شي.

چې یو خوری بل ورنه ګوري، د اسمان کانې به پې اوري.

چیرې . . . ، چیرې څنګل.

چیرې چې ډنګ شي، د ابې ګوډې تر څنګ شي.

چیرې چې کولاله ګوره، خو خپله سیاله ګوره.

««« ***** »»»

# ( غ )

خان صاحب یو تار وریښم نه خوړل، لس زره روپۍ یې وخوړلې.

خاورو په ایرو واړول، باد دواړه یوړل.

خاوره (١) د خوسر د کوره اخستل کیږي.

خبره د خدای د پاره، لوړه د ورور د پاره.

خبره تر خبرې پورې یاد یږي.

خبرې ښې کوې، لکۍ یې کږې کوې.

خپل به دې وژړوي، پردی به دې وخندوي.

خپل ته نامه وړه، بل ته جامه وړه.

خپل سر په خپله نه خرییل کیږي.

خپل عمل، دلارې مل.

خپل دې که مړ کې، لمر ته دې نه غورځوي.

خپل کور، یا خپل گور.

خپل وهلی ښه دی، پردی پورې وهلی.

خپل پر تنگسه په کار دی.

خپل دا په نس، د بل دا په وس.

---

(١) - ددې متل معنی داده، چې اکثراً اولاد مور ته ورته وي.

خپل ځان دې ساته، بل ته مه وایه چې غله.

خپل مال تر ستر گو لاندې ښه دی.

خپل وطنه، گله وطنه.

خپل خپل، پردی په ډیرو نارو خپل.

خپل يې که ور کوی، بیا منت ور باندې نه ږدی.

خپل هغه دی، چې بیگا يې کور وینې، سبا يې اور وینی.

خپل عیب دولو منځ، د بل عیب د کلي منځ.

خپله شړۍ ښه ده، نه د بل وریښمن شال.

خپله خوله، هم کلا ده هم بلا.

خپله پښه خپله پنه پیژني.

خپله لاسه، گله لاسه.

خپله خوله (۱) په بل نه و چیږی.

خپله مرسته، له خپله دسته.

خپله خواری نه ژاړی، سر ځخوری (۲) غواړی.

خپلوی له لرې ښه ده، نه له نژدې.

خپلې مورې را نژدې شه، پردۍ مورې د زړه لمبه مې درپسې شه.

* خدای په ربنتیا خوښیږی.

خدای د حق ملگری دی.

---

(۱) - یعنې خپله خواری انسان په خپل زیار ایسته کولی شي.

(۲) - یعنې خپلې خوارۍ ته يې پام نه دی، بې ځایه اغایې کوی.

یا خپلې خوارۍ ته يې پام نشته د شال خواست کوی.

خدای کوږ کړی نه سمیږی.

خدای او پاچا یې راکوی، شیخ میر یې نه راکوی.

خدای دې په هغو پوښته چې لری یې.

خدای وایی ته حرکت کوه، زه به برکت کوم.

خدای د بل په گناه څوک نه نیسی.

خدایه لوی مې کې، لویې رامه کې.

* خر پر لار که، پرې بار خپله چار که.

خر په پالانه ، نه دریږی.

خر په زین اس کیدی نه شی.

خر په غره کښې بوعلی دی.

خر نه دی کچر دی، پرې پورې د خره سر دی.

خر چې تر خره پاتې شی، غوږ یې د پریکولو دی.

خر چې تر مکې ولاړ شی، هغه خر دی.

خر له باره ولوید ، له مستی و نه لوید.

خر ځان ته اریان ؤ ، خاوند یې بار ته.

خر مرداریده نه، او سپی ترې تله نه.

خر له وری پاتې کیږی، له هنگه نه پاتې کیږی.

خر خپل او پردې فصل څه پیژنی.

خر هغه دی ، ځل یې بل دی.

خره ته دې خدای ښکر نه ورکوی، که ښکر ورکړی، دغویو نسونه به څیری کی.

خرې ته یې ویل زوی دې وشو، ویل څه یې کوم خپل بار به وړی خپل به وړم.

خره ته یې گل ونیو، هغه وخوړ.

خره ته جوار او وریشې یو دی.

خره گله که، بیا گیله که.

* خلک په لیونی پورې خاندي، لیونی په خلکو.

خلک پیسې راوړی، ژاولن ریچې.

خلک هر څه کوی، خو هر څه نه وایی.

* خوار په خپله خوارۍ نه شرمیږی.

خوار تلتک نه درلود، چې پیدا یې کړ تر غرمې پکښې پروت ؤ.

خوار کبرجن، دخدای دښمن دی.

خوار خدای کړې، سپی چا کړې.

خوار سړی، برگ یې سپی.

خواران، په هرځای کې اریان.

خوار په هندوستان هم خوار دی.

خوار کور، له دیواله معلومیږی.

خوار شوم، نو هوښیار شوم.

خوار شی د کس، نه د ناکس.

خواره به دې غواړم، نه د ورور د مرگه.

خواره شې مکارې، چې هم جنگ کوې، هم ژاړې.

خواره شې چرگې، چې له خیاله مستک نه خورې.

خواره هغه کړي، چې گاللی يې شي ، بوره هغه کړي ، چې ژړلای شي.
خواره شې خندی ، نه پر غم يې نه پر ښادی.
خوارې لورې تخت به زه درکم ، بخت دې خدای.
خواری د ميړو په شا ده.
خوارې خواری ما وکړې، د کور ميرمن ته شوې.
خواری نه عيب ده ، نه پيغور.
خواږه که د بل ؤ ، نس خو دې خپل ؤ.
خواږه د رنگه خوږل کيږی.
خواست چې کوې، داس کوه.
خواښې پر زوم ريږدی، زوم بې لور ورپريږدی.
خوب د مرگ ورور دی.
خوب په روغ صورت کيږی.
خوب چې راشي بالښت نه غواړی ، مينه چې راشي، ښايست نه غواړی.
خورې تخت به زه درکم، بخت دې خپل دی.
خوره چنبه، حساب مه منه.
خوريی د ماما دمينې دښمن دی.
خورې سوړ سک، تيغ د پلاو باسې.
خورې دا خو مې غور دی، جاغور مې لا بل دی.
خوږ به دې کم، خونه تر ځانه.
خوشحال ختېک ، په درندو دروند، په سپکو سپک.
خوله په غاښو ښايسته وی.

خوله چې اموخته شي، اس نه دی چې کیزه شي.
خوله دې دسوی ده، شخوند د اوبښ وهې.
خویندې مړې شوې، چې پاتې ترلې شوې.
خوی چې بد شي، بانې ډیرې دي.
* خیرات دې وشه، دمړو په اروا دې مه شه.
خیرات لا پوخ نه دی، ښانک یې ورته په سر نیولی.
خیری په اوبو پاکیږی، او وینې په وینو.
خیښې په خوښي، سودا په رضا.

# (د)

* د اباځ غونه ږیرده وه، چې په تاویزو کې ولاړه.
د ابا د مرګه پس، په ادې ورغی هوس.
د اباسین نه چې اوبه غواړې، تږی نه یې.
د ابی دغومرد اوګرده وه، چې په څکه څکه خلاصه شوه.
د څر به خره څخه ډنګر اس ښه دی.
دا خوله، هغه حلوا.
دا دپتی سر دی، پتی بیرته سور ور دی.
دا دحافظ غونډاری دی.
دا دنیا که د یوه شي، هغه یو به پرې موړ نه شي.

دا دې څوک نه وايي چې خوار يم، بلاى به نه شم،
بلاى يم خوار به نه شم.

دا دې کور، دا دې اور، که چيرې لاړې مخ دې تور.

دادو (۱) د کلي مياشې، کله ورک، کله پيدا شي.

د اس لغته اس زغمي.

د اس کيزه چاته مه ورکوه.

د اسماني تکي څخه څوک ځان نه شي ساتلى.

داسې و نه نشته؟ چې باد دې نه وي ښورولې.

داسې کار وى د کهال، انگور غواړى بې ديوال.

داسې مړى مه کوه، چې خوله دې پرې خيرې شي.

داسې مميز نشته، چې خلې پورې نشته.

داسې مه وايه چې زه يم، داسې به شى لکه چې زه يم.

داصيلې کول سخت ساتنه يې اسانه، د کم اصلي کول اسان ساتنه يې سخت.

دانصاف په وخت گيدړه او زمرى يو ځاى اوبه څښي.

د اوبو لار په وتې ده.

د اور سوى په اور رغيږى.

د اور سوى جوړيږى، خو دلمر سوى نه جوړيږى.

د اور لمبه که سړى هر څو ښکته کوى، هغه اخر سر اوچتوى.

---

(۱)- دادو د يو سړى نوم دى.

(۲)- لوښلني د اوړو د لوښى د پرولوني اوبو ته وايي.

د اوړي لوښلني (۲) د ژمي نګولي.

د اوړي نه شړي کيږي.

د اوښ په شان د سر سيوري مه خوره.

د اوښ په شا سپو وخوړم.

د اوښ او خره بار له ورايه معلوميږي.

دا ګومان مې نه شي، چې له ايزه به زوي وشي.

د ايلني مار يې، پټ چيچل کړي.

دا يې ګز، دا يې ميدان.

دا يې ډول او دا يې ژرنده.

د بابا د غونه ږيره ده، چې د مچولو بس ده.

د باچا زور، د خدای زور.

د باران وريده بويه، د مسافر وتله بويه.

د بارانه ولاړ شو، ناوې ته کښيناست.

د بارانه تښتيدم، د ناوې لاندې مې شپه شوه.

د باز په ځاله کې باز زيږي.

د باز عمر لنډ وي.

د بدسره چې ښه کړې، لکه خره ته چې وا ښه کړې.

د بدمرغه سړي غوا به په ژمي کې لنګيږي.

د بدو د لارې، لا غلې لا لرې.

د بدې خبرې سل کاله عمر دی.

د بډای په ختم د ملا ارمان نه خيژي.

د بډای په ختم ملا نه سترې کیږي.

د بډایانو په هیله، خواران له خوارۍ ووته.

د بزې برخه چې وړي، نو به ډیر زحمت ګالي.

د بزې چې بدن کاوکي، د شپانه ډوډۍ خوري.

د بل په پر تاګه ځان نه پټیږي.

د بل په لاس کې مړۍ غټه ښکاریږي.

د بل په قول شرط مه تړه.

د بل په دسترخان سل میلمانه، هیڅ دي.

د بل پر مړی نه دی، خپل یاسین تیزوی.

د بل تر وریجو، غوښو، سوړ سوړ سک د کور ښه دی.

د بل تر زوی، خپله پکه لور ښه ده.

د بل تر اتلسه، خپله خمتا ښه ده.

د بل تلتک تر نیمو شپو وي.

د بل خړی سام جن دی.

د بل د لاسه عسل ګنډیری، د خپل لاس ګنډیر عسل دی.

د بل ډوډۍ، یا پور ده، یا پیغور.

د بل زوی، نه زوی.

د بل کار د ایمان په رڼا کیږي.

د بل کار که دې ښه وکه لاس پرې تور، که دې بد وکړ مخ پرې تور.

د بل کور چا خوار نه دی لیدلې.

د بل نیستی نه لري.

د بل وطن یاری، د سر سودا ده.

د بنده مخ د خدای له نوره دی.

د بنده هیله گنده ده.

د بنده ویره، په سترگو کې ده.

د بنگړو بار یې، زه دې ترم ته ورانیږې.

د بورې سود، په بورې شي.

د بیکارۍ لار ورکیږي، د کارداری لار رونیږي.

د بې پیره کار بد مذهبه کوي.

د بې صبرو دې کور وران شي، مونږ ته یې په څمکه واچوه.

د بې عقلې ښځې، تل کمیس سوزي.

د بې غیرته کاله، میلمه واکدار دی.

د بې کاره، خدای بیزاره.

د بې ننگه په ننگه به تل شرمنده یې.

د بې نیازه چې مرور یې، هغو نه سودمن یې.

د پاچا پاچاهي څې، د مزدور مزدوري.

د پاخه او ستا دیگ په ورو ورو پخیږي.

د پای څې رگ نه پرینبود کیږي.

د پردۍ ابۍ نه، خپله تبۍ ښه ده.

د پردي په زوی، د عزرائیل څه؟

د پردي اس نه، خپل تټو ښه دی.

د پردۍ توری مصرۍ مې لور په غاړه ښه دی.

د پردۍ تور سرې ښه غواړه، دخپلې تورسرې دپاره.

د پړانګ سپينې منګلې، شپنو پوڅې پرې ويشلې.

د پسرۍ تر ګلو د ژمي اور ښه دی، تر ناسياله ښځې، جره کور ښه دی.

د پشي اول تښ ته څوک ځان نه نيسي.

د پشي منډه تر کادانې پورې وی.

د پشي نظر په کولپې (١) وی.

د پښ پر دکان که و نه سوځې، بڅرکې به درو الوځی.

د پښ کور چې وسو، هغو نه ښه شو.

د پښتنو جوړه په پرده وی، مرګ يې هسې پلمه وی.

د پښو خاورې سترګو ته الوځی.

د پلار اشنا، د زوی کاکا.

د پلار ګټه د امبار کوټه، د زوی ګټه د زړه غوټه.

د پور دلاسه، دوه کوره خرابيږی.

د پوه سړی دوستی زيان نه لری.

د پيښې څخه تيښته نشته.

د پيغلې شل مخه په بوخچه کښې دی.

د پيل په يوه وڅکه څه کيږی.

د پيل يوه تبه مرګ دی.

د تا چې څومره خيال دی، زما هغومره مال دی.

د تالندې چې دربې شي، دشپانه ورته غرمبې شي.

(١) - خمير دان.

د تبر خوله نیمځی نیولې ده.

د تخته که ولوېږم، دځمکې نه لوېږم.

د تربور په زړه سوی کې، پیغور نغښتی دی.

د تروږې په ډیر ایرس، رنګ یې بد کړ د اولس.

د ترم چې څه دی، یو پو دی.

د تش ټوپکه دوه کسه بیرېږي.

د تشه ډاګه به سیلۍ څه یوسي.

د تورو مخ رڼا وی.

د تورې شپې ناره بې څه نه وي.

د تورې وهلی به جوړ شي، د خولې ویشتلی نه جوړېږي.

د تورې ټپ جوړېږي، د بدې خبرې ټپ نه جوړېږي.

د ټولو نیمه نیمه، د ابۍ شود یود نیمه.

د ټپوس دځالې نه، ټپوس پاځی.

د جنګ څخه به روغ راشي، مګر له ځنګله څخه نه.

د جنګ شپې دې وي، دغم دې نه وي.

د جنګ خوږې خبرې، ساعت یې تریخ دی.

د جنګ میدان په پښو نه وهل کیږي.

د جنګه زه راغلم، خبرې ته کوې.

د ځوانۍ بیکاری، د سپین ږیر توب خواری.

د چا اول، د چا آخر.

د چا چې یوه سترګه ړنده شي، پر بله لاس ږدی.

دچا دروازه مه ټکوه په گوته، ستا به نه وهي په لغته.

د چرگ په اذان نه سهار کیږي.

د چغال تر ناز، د زمري ځیرل ښه دي.

دچغال کور، بې چرگه نه وي.

د چنگښو من نه پوره کیږي.

د چیدي به لاس وانه خلم چیدي، که مې سر پر چیدي پرې شي چیدي.

دحق څښتن ډاډه وي.

د خاورو ولاړ شو، پر ایرو کښیناست.

د خیرې مرگ هیره ده.

دخپل خپلوي ښه ده، نژدیکت یې ښه نه دی.

د خپل کاله خور او لور کړمیز نه وي.

دخپل کور غل نه نیول کیږي.

دخپل وطن گیدړ، د بل وطن تر زمري ښه دی.

د خپلو ازاریده شته، بیزاریده نشته.

دخپله نه رغیږي.

دخپلې کمبلې سرد پښې غزوه.

د خدای امر چې وشي، پلار یې نه وي زوی یې وشي.

د خدای په چارو د چا وس نه رسیږي.

دخدای داسې رضا ده، ابد له ودوو د ترینې ورا ده.

د خدای کاره دې خدای سم کړي.

د خدای گناکار په توبه خلاسیږي، او د بنده په ناغه.

دخدای نظر یا پر زهیرو زړو دی، یا پر نړیدلو قبرو.

د خدای چې رضا شي، ورځ یې سمه شي.

دخره بار چې دروند وي، ښه ځی.

د خره مړی، د سپو اختر دی.

د خره ښبتن ته پیښه ده.

دخره لکۍ چې له هرې خوا لویشت کی، دوه لویشتې ده.

دخره مینه لغته ده.

د خره نه یې کته لویه ده.

دخوار په لاس کې غلمینه ډوډۍ بده ایسي.

د خوار خپله خواری بس ده.

د خوار کاله وړی دې خدای ماړه کړي.

د خوارانو برخې، پر اغزیو څرخي.

د خوار رنځور پوښتنه رحمت دی، د بډای سړی منت.

د خوار مُلا مسئله څوک نه اوري.

د خوار ملا په اذان څوک کلمه نه وایي.

د خوار سړی ځای به په زوړ گیلم وي.

د خواښې هلته ورځ کړه شي، چې د زوم کره یې شپه شي.

دخوارې کونډې زویه، خپله روټۍ ژویه.

دخوارۍ څخه پر ژرنده ناست، د کبره مزد نه اخلي.

دخوار یوه وزه وه، هغه هم گوډه ړنده وه.

د خوریې خاوره، دماما دنغری څخه ده.

دخولې او زړه وینا چې یوه شي یارانه ترې جوړیږی.

دخطا یا ناغه وی، یا توبه.

دخیاله دلونګو لونه کوی، دلوړې ځاښت کښینی.

د خیرات وز یا لنډی وی، یا بوچی.

د خیرات په خوا کښې ډی کوی.

د خیره مې دې توبه، کاسه مې په لاس راکړه.

دداسې سړی په لاس مړ مه شی، چې سل یې نه وی وژلی.

ددستر خان پر لمن څه دوست، څه دښمن.

د دادو ورکې میني، ګازری خدایرام خیله یوړې.

ددښمن کره ځم، دوست مې ګرو دی.

ددښمن د غصې، غم شړم په تماشې.

د دکاندار سترګې تول دی.

ددنیا پیغور، د آخرت تر اور کم نه دی.

د دنیا څخه چې وفا غواړی، لکه دمړو څخه چې خندا غواړی.

د دوبی سخی، دژمی صوفی نه دی په کار.

د دوبی کور داختر په ورځ ګوره.

د دوو خرو وربشی نه شی بیلولی.

د دوست په منت خپه نه شې، ددښمن په خندا ونه غولیږی.

د دوست پوستین می وکیښ، خو د دښمن دروازې ته ورنه غلم.

د دوست لاس درد نه لری.

د دیوال عمر، له اخیره پوښتنه.

د دې کلي خورزو ده، په دې کلي واده ده.
د ډنډ اوبه چې ډېرې ودرېږي ګنده شي.
د ډم سترګې به تل په نغري وي.
د ډول آواز د لرې ښه خوند کوي.
د ډېر کار ډېره ګټه وي.
د ډېرو ډېر مري، د لږو لږ.
دروغو ته د رښتيا رنګ ورکول، ګران دي.
درياب که لوی دی، چمچه دې خپله ده.
د رويبار په دوايو مخ تور دی.
درياب په لپه نه کمېږي.
درياب په لوټه نه خړېږي.
درې پيټی ريشکه يې وخوړله، دی يې لا مړه بولي.
دريدلی په چانه دی چليدلی.
د زاړه غوايي، يوه جوپه ده.
د زړه مينه، په لاس ښکاره کېږي.
د زړه، زړه ته لاره وي.
د ړانده له نيولو، د کاڼه د وهلو دې خدای ساته.
د زرګر راستي دغه ده، چې غلا ورځخه و نه کي.
د زرو په قدر زرګر پوهيږي.
د زمری غار بې هډوکی نه وي.
د ډېرو لرګی، د يوه غوزی.

د ډیرو همسا، دیوه گیډی.

د ډیوې لاندې تیاره وی.

دریاندې به یې وښنډم، وبه یې نه خورې.

د رشتیا گوی د خولې سر سوری وی.

درکوم یې، مگر په کم کانې، په تشه پیمانه.

دروغ د ایمان زیان دی.

دروغ وایه، په شرع یې زوغ وایه.

دروغجن دې دروغ وایي، هغه بل دې قیاس کوي.

دروغجن، هیر جن.

دروغجن سړی هر چاته سپک ښکاري.

دروغجن چې په دروغو ځان مجبور گنې هم دروغجن دی.

د زور اوبه په پیچومې هم خیژي.

د زوروړ ځپلی، دخوار ککرۍ.

د زورور وهل، د کم زورې ښکنځل.

د زورور یاري، دخره سپرلي.

د زورور ترڅنگه مه کښینه زړه وره.

د زورور لښته نه پور دی، نه پیغور.

د زوی په هیله مور، له میړه ووته.

د زوی ناره په هغو ده، چې د خدای وریاندې پیرزو ده.

د زوی میرانه د مور د تندی څخه معلومیږي.

د زوی په میړانه، مور سر دسره ځوانه.

دزوی مې دې اوړ ته مري، د لوږ مې دې ميږه، نه بوره نه وراره.

د ژاولن په کور کې خپلوان شرميږي، په گور کې مُردگان.

د ژرندې لار له ډوله ده.

دژبې په توده، د دښمن په خوږ، مه غوليږه.

د ژرندې زه راغلم، له واره ته خبر يې.

د ژمي په لمر مه نازيږه، د دښمن په خندا.

دژمي پيتاوي دې هغه کوي، چې کندو يې ډک وي.

د ژمي اور هر څوک ځان ته راکاږي.

د سبا خبره سبا کيږي.

د سپو کور په کور دعوه ده، خوار فقير ته يې يوه ده.

د سپو د نيستي نه چغالنو په کور کې ځای ونيوه.

د سپو له خوارۍ، گيدړ پر بام کوي بازۍ.

د سپي په خوله دریاب نه مرداريږي.

د سپي او د ميږه وينې نه تللې کيږي.

د سپي دَم زده کړه، خو کوتک له لاسه مه غورځوه.

د سپي تر خوله چې هډو رسيږي، غنيمت دی.

دسپي تر لکۍ لاندې عمر هم تيريږي.

د ستړي يوه دمه، د وږي يوه مړی.

د ستنې له سوري چا بار نه دی ايستلی.

د سر پر ځای مې پښې وای، دژی خوله را نژدې وای.

دسر نه چې تير شي، قلندر شي.

دسلو بللو ځای کیږی، او د یوه نابللی ځای نه کیږی.

د سلو کولبو خاوند، یوه لنډی ته ودرېږی.

د سلو مرغانو د پاره، یوه ډبره کافی ده.

د سلو (هو!) نه، یوه (نه!) ښه ده.

د سلو کالو مور به په سل کاله وږی نه شی، دسلو کالو وږی به، په سل کاله موړ نه شی.

د سلو غرونه پنا ښه دی، نه د یوه سینده.

د سوال په اوبو ژرنده نه چلیږی.

د سورناچی څه دی، یو پو دی.

د سوی دې خپلې غوښې دارو شی.

د سیال خواږه یا پور دی، یا پیغور.

د سیل ځای، گودر دی.

دسیند مړی چا گټلی.

د شپې که ولاړ نه شی د ورځې په مزله ته و نه رسیږې.

د شپې بند اوبو وړی دی.

د شپې هر سړی ډاریږی، څوک حال وایی، څوک یې نه وایی.

د شرمښ زوی، شرمښ وی.

د شلو کلو یار، یوه ورځ شی په کار.

د شنې میږې وری که شین نه وی شین ټکې به لری.

د شوم په شومې، وسول ټول پټی.

د شوقدر شپه په شوگیر لیده کیږی.

د ښار دروازې تړلی کیږی، د عالم خولې نه تړل کیږی.

د ښاره زه راغلم، د نرخه ته خبر یې.

د ښاره ووځه، له نرخه مه وځه.

د ښځې چې د میړه سره راستی وی، د کور ژوند یې په درستی وی.

د ښکار غوښې، د ځان غوښې.

د ښکاری وار وریاندی نه جوړیده، د نندارچی ورته بیړه وه.

د ښمن دې چې په شا تومری، په زارو یې مه وژنه.

د ښمنی په سلام نه ورکیږی.

د ښمن هغه دی، چې اول یې (هو!) وی، اخیر یې (نه!).

د ښمن یاسر ته گوری یا پښو ته.

د ښو به ښه وایی، د بدو به څوک څه وایی.

د ښو ښځه ښه زیږی، د بدو ښځه وا ښه.

د ښوروا دې مرور یم، د غوښو دې پخلا.

د ښو غوښو، ښه ښوروا وی.

د ښه پلاره د ښه موره، بلا وزیږیده توره.

د ښه خوی ښایسته په ښایستو نه گڼیږی.

د ښې ورځې مې یار، د بدې ورځې مې بیزار.

د صبر میوه، په مراد پخیږی.

د صحرا موږک راغی، د کور موږک یې وویست.

د ظالم عُمر د خرجال پاچایی ده.

د ظلم کور وران دی.

د ظلم عُمر لنډ دی.

د ظلم کاسه آخر چپه ده.

د عالِمه سره غم نه غم دی.

د علم برخه درنده ده.

د عقل وسه په عشق نه رسیږی.

د عقل مې کمبود نشته، خو بخت نه لرم.

د عقل وږی چا لیدلی نه دی او د دنیا موړ.

د عقل وږی نشته او د دنیا موړ.

د غرض څښتن لیُونی وی.

د غاترې ترشا مه تیرېږه، د مَلِک تر مخ.

د غرو ځنګلونه بې زمریانو نه وی.

د غریب په مرګ څوک نه ژاړی.

د غریب مُلا پر اذان څوک غوږ نه نیسی.

د غریب سړی به د خیرات په ورځ غوا ورکه وی.

د غریب مُلا پر اذان څوک روژه نه ماتوی.

د غریب سړی به د اختر په ورځ په نس درد وی.

د غریب غاښ به په حلوا ماتیږی.

د غلو ده ښه یاری، بده یې بیزاری.

د غلو مې کلی نه لید، د شګو مې څلی.

د غلو په ږیره خلی، غلګی لاس ورته نیولی.

د غله ځای په غره کښې نشته.

د غله کلا چا لیدلې ده.

د غله میړانه تیښته ده.

د غنمو له رویه څوز اوبیږي.

دغنمو لار د ژرندې تر خولې ده.

د غنی که زړه سوی وشی ، خوار غریب به پاتې نه شی.

د کاږه تیکی سره کږه توره جوړیږي.

د کال خپله مې نه یې، خپلې شپې به درسره تیروم.

دکال ښه والی، د پسرلی څخه معلومیږي.

د کاله خور او لور کړمیز نه وي.

د کاله کشر مه شې ، د کاروان مشر مه شې.

دکانداری اسانه ده، خوسختی یې توکری دی.

دکان یې مه گوره، مال یې گوره.

د کبر کاسه نسکوره ده.

د کږې تورې، کوږ چړتون وي.

دکم اصل لوی تیا ، د اصیل سپکتیا وي.

د کوټه یوه غوټه.

د کوچنی په ژبه خپله مور ښه پوهیږي.

د کور پیر چاته نه معلومیږي.

دکور توریالی دی، خو د بیابان خندنی دی.

دکور خبره، د باندې مه کوه.

د کور گټه، د لاهور گټه.

د کور غم به صحرا ته یوسم، دصحرا غم به چیرته.

د کور غم، د گور غم.

د کور غم نه گلول کیږي.

د کور نوم له نیستی نه ورکیږي.

د کومباړ (۱) په کور کښې، روغ لوښی نشته.

د کونډې دوه غوایي وو، یو ووت نه، بل ننه ووت نه.

د کونډې هم زړه کیږي، هم یې ساړه.

دکونډې، نه دین شو، نه دنیا.

د کونډې غم دځان وي، د لور یې د خان وي.

د کونډې کره زوی نه ؤ، چې زوی پیدا شو، مرگو گډه شوه.

دکونډې یوه لور وه، په سکونډلو کښې یوړه.

د کونډې زویه، څه خوبویه.

د کونډې زوی، نیم پاچا دی.

د کوهي ختېه، په کوهي لگیږي.

دګټې او توري ځای توپیر لري.

د گور خاورې، پر گور لگیږي.

د گوډي لار په ژرنده ده.

د گور شپه نه پر کور کیږي.

د گوملې مړي، له گوملې غواړه.

د گونگ په ژبه مور پوهیږي.

---

(۱) – کومباړ: کولال ته وایي.

د گونګ په ژبه، ګونګ پوهیږي.
د ګیدړ تر ناز، د زمري ځیرل ښه دي.

د ګیدړې او زمري اشنايي نه کیږي.
د لاس غوټه، په غاښ مه خلاسوه.
د لټې غوايي آخر خاوند قصاب دی.
د لړو لړ، د ډیرو ډیر.
د لښکر په آخر ځه، د ماتې په سر.
د لندو به څه لانده شي.
د لندو ختمو لرې اوبه دارو دي.
د لور مې دې میره مړ شي، د زوی مې دې اورته، زه دې تهوله یمه سمته.
د لوګړی چې رضا نه وي، لور په لوټه اچوي.
د لولی واته یو شرم، او نه واته یې بل شرم.
د لیرې دې لیدی نه شم، د نژدې درته کتای نه شم.
د لیوه چې خوله سره شي، په لسو پسو بند نه دی.
د لیوه سره چې غوښې خوري، له ځښتن سره تندي وهي.
د لویو ویالو څخه خیز مه وهه، چې لوند به شي.
د لوی منګی اوبه خوږې وي.
دماغ دې پیل وړای نشي، په کور کښې دې مور کان له لوږی روژې نیسي.
د مارانو لارې چا بندې کړي دي.

د ماړه کور به سترګې ورڅې وي.

د ماهي چې اجل راشي، چچې ته نژدې کیږي.

د مرچو په ځتې ناست دی.

د مرد خواړه د نامرد په نس کې پاتې کیږي.

د مرګ دارو ګران دی.

د مرګه مخ کښې ځان مه وژنه.

د مرور برخه، یا درنه ده یا تالا ده.

د مرور برخه، د نسور ده.

د مرۍ پسول څه دی، دبنۍ کور څه دی.

د مریانو لښکر څه وي، د خرو چرچر څه دی.

د میرې ځپیړه، د اور لمبه ده.

د مړاوو اوبو وبیرېږه، له توندو اوبو مه بیرېږه.

د مړو به لا څه بنادي وي.

د مړو لا کله په قیامت نه وه رضا.

د مړي قدر، په ژوندي باندې وي.

د مړه څخه شیطان لا بیزاره دی.

د مړه مال، په مړه پسې ځي.

د مجبورۍ یو نوم صبر دی.

د مسافر د شپو حساب مه کوه، د سرخواست یې کوه.

د مسافر ویر سوړ وي.

د مستې په میچن، څه ورشې څه غنم.

د مسجد سړی، په مسجد کښې لټوه.

د مسخرو آخر جنگ دی.

د مشکو بوی نه پټیږي.

د مکې لار په منډه نه خلاسیږي.

د ملخ ورور یې، نه خواږه گورې نه ترخه.

د ملغلرې یو آب دی، چه لاړ شی، آب یې نه پاتې کیږي.

د مَلِک تر مخ او د غاترې تر شا مه تیریږه.

د ملک لور، په نامه غوښته کیږي.

د ملنگ کچکول پاتیږي، د پاچا پاچاهي.

د منگري سر په دښمن ټکوه.

د موچي خونه هسې خوساوه، چې باران پرې وشو ډډوزې یې ولاړې.

د مور زړه پر زوی، د زوی پر وچ کاڼې.

د مور غیږ، د زوی زانگو ده.

د مور یې شړي لنگ وگوره، د لور یې شرنگ پرنگ وگوره.

د مورک څه غم دی، په ژرنده کښې یې کور دی!

د میړانې او سپیتانې، یو گام تر منځ دی.

د میړو په مغزو کښې تل د تورې شرنگ وي.

د میړو پرده خدای کوي.

د میړو یو لاس په چاړه، بل په خواږه.

د میړه زوی سترگې غټې وي.

د میړه ژوند د تورې تر سیورې لاندې وي.

د میره سیالی کوه، د بخت یې مه کوه.

د میره یا خرپ وی، یا ترپ.

د میړیانو کور له غمه نه خلاسیږی.

د میلمه په بیره، د کور به څه دی.

د میلمه بیگا مخ وی، سبا یې څټ.

د میلمه جواب، پیتی ده.

د میلمه میلمه بد ایسی، دکوربه دواړه.

د مین کام، دشهادت جام دی.

د مینځی مات سر ته گوري، د بی بی زړه ته نه گوری.

د میو غوندې، په یو مخ کولیږی.

د نااهلو څخه پت مه غواړه.

د نازخواړه یا تاوده وی، یا بلمنگه.

د ناست زمری نه، گرځنده گیدړ ښه دی.

د ناکسه اشنایی، دخره سپارلی.

د ناوختې میلمه یې له ملا خوری.

د نژدې ورته کتلای نه شم، د لرې یې پرینبولای نه شم.

د نس پرسته لاندې، په څیله کنبې تمامیږی.

د نشت نه موزی ښه دی، کټ پرې د ک وی.

د نغری غم څوک نشی گلولای.

د ننگرهار له تویی نه سری سر تور ښه دی.

د نورو نیمه، د انا یوه نیمه.

د نورو تلوار دی، ماته یې په ځمکه را واچوه.

د نوک پر ځای سوک منهٔ.

د نوی په هوس، زاړه یې کړه خس خس.

د نه زویه مینه نه ورکیږی، د سپی زویه مینه ورکیږی.

د نه میړو ، ملک شوبلو.

دنیا بلبل دہ، کله د یوه ، کله د بل دہ.

دنیا په دوو سترګو خپله، په دوو پردی.

دنیا په دنیا ورځی.

دنیا باد دہ باد به یې یوسی، د پاسه به او دل راشی تر قیامته په پر اوسی.

دنیا په امید خوړله کیږی.

دنیا تر سر جار، سر تر ناموس جار.

دنیا خپله لری، روی پر عالم.

دنیا داره چې دنیا دې ډیروله، سپین کفن دې یووړ.

دغه نورد دې پر چا وزیر میله.

دنیا ډیریږی، زړه تنګیږی.

دنیا هغه ته معلومه دہ، چې خنبه کړې یې دہ.

دنیستی، هر ساعت مرګ دی.

د نیکانو له قدمه، بدان وو تل له غمه.

د نیمې ورځې حکومت د سلو کلو کور خرابوی.

د وادہ نه وروسته سندرې څه په کار.

دوبې دخوار و غريب جامه ده.

د وچو له غمه، لانده سوځي.

دو د له کندې خيژي.

دو د ښايستو لره ځي. (۱)

دو دونه هغه دود نه وي، چې دسخا پکښې رودونه وي.

دوران، پر هر گوروان.

د ورځې د توتو په خورلو شرميږي، د شپې يې له پچو سره خوري.

د وروره خور مې کې، محتاجه مې مه کې.

د وروره څخه گټه، څو نه گټه نه ده.

د وروره دې ورارد شو، د وراره سره دې څه شو.

د وروره پورې ولاړ وې، دمنی ورځ وې ولاړې.

د وږی تر پام، سږی غوښې دی

د وږی سترگې، په ديگدان کښې وی.

دوست او دښمن په يوه سترگې گوری.

دوست اشارې ته گوری، او دښمن وارې ته.

دوست به دې وژروی، دښمن به دې وخندوی.

دوست ته حال وايه، دښمن ته لاپه وهه.

دوست ته دومره تمه کوه، چې دلاسه يې کيږی.

دوست ته تشه پياله، دښمن ته ډکه.

دوست دې کوم دی، چې سهار دې اور وينی ماښام دې کور.

(۱) - دا متل د کندهار و خوا دی.

دوست روزنه غواړی، دښمن ترټنه.

دوست د سختۍ د پاره ښه دی.

دوستی د سلو کلو لار ده.

د وطن په قدر، مسافر ښه پوهیږی.

دولت له اتفاقه پیدا کیږی.

دولت د لاس خیره ده.

دولت دې د ځان دی، عزت دې په جهان دی.

د ولې میوه لاس ته نه راځی.

دومره مه لوییږه، چې ما نه ګورې.

دونه تیوپ وهه، چې د پښو نه لویږې.

د ونې سل کاله عمر، د مرغۍ پرې یوه شپه.

دود به سره جوړ شی، که دریم یې ترمنځ نه وی.

دود پکځ، هغه هم سره ورک.

دود ورونه، هغه هم سره تربرونه.

دود ورونه، دریم حساب.

دود که لامچان شی، د یوې بلا تمام شی.

دود ګوتې مې توری کړې، په تا خوارې مې پورې کړې.

دود لځ، په نه سره پټیږی.

دود لځ په حمام کښې ښه سره ایسی.

دود مرغان، یوه یې ځاله، خبر نه دی یو د بل له حاله.

دود وری چن یوه وټ کښې بد سره وری.

دوه غوايي چې ښکر په ښکر شي، زيان د بوټو کانو دی.

دوه هندوانې په يوه لاس کښې نه نيولې کيږي.

د هر چا سره خپل سيورې مل دی.

د هر چا ښه، د خپل ځان ده.

د هر چا په سر کښې يوه پياله بنګ دی.

د هر سر د پاسه، سر دی.

د هر سړي آب، په خپل لاس کښې دی.

د هر شي خوند په مالګه ښه کيږي، د مالګې خوند به په څه ښه شي.

د هر شي جامه څيريږي، د ښه خوی جامه نه څيريږي، نه زړيږي.

د هغو تاڼيانو خولې تورې دی، چې ښکار کوي.

د هغه زغله چې يو وار هوکي، بيا نه.

د هغه مه بيريږه، چې له خدايه بيريږي.

د هغه و بيريږه، چې د خدايه نه بيريږي.

د هوښيارانو ويل، د کاڼي ښکل دی.

د هوښيار بلا دې ورکه وي.

د هوا مرغی شل د پيسې

د هيچا څراغ تر سهاره نه لګيږي.

د هيلې مخ تور دی.

د هيلې بچي ته لامبو مه زده کوه.

د يار ترخې خبرې، خوږې لګيږي.

د يار سره ياري کړه، په عيبو يې غرض مه کړه.

د یتیم اوښکې په خپله مور پاکیږی.
دیوال نم زره وی، انسان غم.
دیوالونه هم غوږونه لری.
د یوې ونې لرگی، څه لوی څه کمکی.
د یو ستوری نه، دوې پېچې ښې دی.
د یو زر تلاؤ نه، یو بخت ښه دی.
د یوه زیان، د بل تکیه.
د یوه سپاهی به څه دوړه وی.
د یوه لاسه ټک نه خیژی.
د یوه مریی د سلو بادار.
د یوې ورځې حاکم، د شلو کالو کور خرابوی.
د یوې سپېرې د پاره، پوستین اور ته مه اچوه.

## (ډ)

* ډال چې گرزوی، ځان به ساتی.
ډاندوغ به یا وینې خوری، یا سپینې.
ډېره چې پر ځای پرته وی، درنه وی.
ډېره د یتیم په سر لویږی.
ډېره یوه نیک مرغه، یوه بد مرغه.
ډېرې اړوې، لړم ترې لاندې غواړې.
ډ که کاسه خامخا چړپیږی.

ډمان څلور کسه په ښته پسې تلل، مګر د بې کسې چیغې یې وهلې.

ډم چې ډول وهی، زور یې لری.

ډم خو موړ شو، چې پاتې یې کور شو.

ډمه ګډیدلی نه شوه، ویل یې ځمکه کږه ده.

ډوډی به خپله خوری، سترګې به د نورو پرې سرې وی.

ډوډی پردی ښوروا ته مه وړه کوه.

ډوډی خپله خوره، عقل له بله زده کوه.

ډوډی د نانوای ځی، زړه د بتیاری چوی.

ډوډی د لوښې له مخې خوړله کیږی.

ډوډی زما خوری (۱) توتو د سلاخانې کوی.

ډوډی که د بل ده، نس خورې خپل دی.

ډول په بیه، کبر وړیا.

ډول په تیر اغږیږی، ما مندی کور ګډیږی.

ډول سوری ګوته پکښې.

ډول یې د لیونی په لاس کښې ورکړ.

ډولونه مې تر خولې تیر دی، دا یې ډمبکی دی.

ډیر کار، ډیره ګټه.

ډیر مه وایه، چې لږ خیژی.

ډیر ویل د قرآن ښه ده.

ډیره ګټه، دمایې سر خوری.

ډیر یې نه موندل، لږه یې نه خوړل.

(۱) -کندهار د سیمې دی.

# (ر)

* راتګ په اراده، بیرته تګ په اجازه.
راست اوسه، پر لویه لار ناست اوسه.
راستی زوال نه لری.
راکه زما چوټی، بیزاره یم د ګټي.
رښتیا ویل ترخه دی.
رښتیا وایه، په کوچنی یې وایه.
رښتیا که نه وایم، الله مې نیسی، که یې ووایم، عبدالله مې نیسی.
رښتیا یا زورور وایی، یا لیونی.
راغلی پکښې کښیوتې، ډنډ ؤ پښکې پریوتې.
رغستلی (۱)، له منځه وتلی.
رمه که له شپانه خوشې ده، له څښتن نه خو نه ده خوشې.
رنځوره آن دې تمام شو، چې لقمان پر تا نادان شو.
رنځونه د ګرمی، علاج یې د سردی.
رنګ دې د غله، ناستې دې پرڅه.
رنګ مې ګوره، حال مې پوښته.
رنګ یې د ګُل، خوند یې د پیاز.
رنګ یې د ملا، عمل یې د بلا.

(۱) - ځینې پښتانه یې ورغستلی یې بولی.

رنگ یې مه گوره، خوند یې گوره.
رنگ یې د گلیگي، ولاړ د گول پر ځای. (۱)
روپۍ، روپۍ پیدا کوي.
روپۍ که کوچنۍ ده، کارونه غټ کوي.
روته نه د کاله خوښیږي، نه د میلمانه.
ورځ که یوه ده، وختونه یې ډیر دي.
رود له ویالو خوریږي.
روزي چا په منډه نه ده نیولې.
روغ صورت نیمه پاچاهي ده.
روغ صورت نه پټیږي.

## (ړ)

* ړانده ته شپه او ورځ یو شان ده.
ړانده ته دخولې لار معلومه ده.
ړانده ته مه گډیږه، کاڼه ته ډول مه وهه.
ړوند په خپلو سترگو بینا دی.
ړوند په خپل کور ښه پوهیږي.
ړوند په گوډ پورې خاندي.
ړوند په موږي هره ورځ نه لویږي.

(۱) - یعنې رنگ د (خوسي) مگر د لوی غوایي پر ځای کول ( دسرو غنمو پر راشه ).

ړوند خو ړوند یم، سترګو ته مې ولې ډکې راوړې.
ړوند څراغ څه کړي.
ړوند له خدایه څه غواړي، دوې سترګې.
ړوند یو واري، امسا ورکوي.
ړومبی د وروستی پل دی.

## (ز)

* زاړه ته یې ویل: مه څیریږه، ده ویل: مه غریږه.
زاړه ته یې ویل مه څیریږه، ده ویل مه غریږه.
زامن خواږه دي، غښی یې کاږه دي.
زر پر غره لار جوړوي.
زر تر ښیږ کال، پر کال قدر من وي.
زر چې وي، زاري د څه ده.
زر چې پاک وي، له اوره یې څه باک وي.
زر زر ګرتولوي، خبرې دروېز ګر تولوي.
زرګر غولولي، په شلم کال پوهیږي.
زر که سږ خواږه دي، کال ته هم خواږه دي.
زرغونه به لنګیږي، احمد شاه به ځنې زیږي.
زربنده چې میر شي، چې میر شوې بیا زر ډیر دي.
زره بوډۍ پر خره سپره، چارتار وهي.

زړه بوډۍ او دوکاته ځني.

زړه په خوله بدیږي.

زړه چې مین شي ښایست نه غواړي، خوب چې ورشي بالښت نه غواړي.

زړه د میني کور دی.

زړه زړه ته لار لري.

زړه شوم، پاکیزه شوم.

زړور یو وخت مري، او بې زړه تل.

زړه هینداره ده.

زړه یې ښه که، کار پرې وکه.

زړې خبرې، نوی توبرې.

زلفې سنبل، نس مې پر بل.

زلفې دخیاله زنگیدې، باد پرې بدنام شو.

زما ښه شی، ستا گنده شی.

زما هله هله ازلی برخه مې کړه تر چاپېره.

زما پور دې پر کار گه وی، د کارگه مرگی دې نه وی.

زما دې خواست ورک شی، ستا دې داد.

زما زویه، تر ما لویه.

زما غوري ستا پر کورتو لویږی،...

زما یوې روپۍ، زه دې خال کړم که اوړی.

زما نه منی، د خره منې.

زور چې قدم کیږدی، عقل هلته ریږدی.

زور چې زورور شی، عقل مرور شی.

زور چې راشي، دحساب ملا ماتوي.

زور چې له بخته جلا وي، په بدو مبتلا وي.

زور چې پرې ورشي، عقل لړ و بر شي.

زور چې زور ورشي، پتې له تخمه سره خپل شي.

زور ته پوله نشته.

زور خو زور، چل هم د زوره کم نه دی.

زورور دې تر پام کمزوری مه شه.

زورور غويي، دغولي منځ نيسي.

زوړ يې د ملخ ترا پي پر مخ.

زوړ پيوند وه، برينډ به نه شي.

زوړ غل په خپل اولس کښې غلا نه کوي.

زوړ غويي کونجاړه په خوب کښېويني.

زوړ که بار نشي وړای، لاروړای شي.

زوم نه باله شي، نه شاړه شي.

زوم يې د خوسر له نغرى اخلي.

زوی چې و نه ژاړي، مور تې نه ورکوي.

زوی ته اړ گوره، لور ته لوړ گوره.

زوی ته دمور په سترگه گوره.

زوی مې را ملا کړه، کډې مې ولاړې.

زويي په ښه دې غواړم، د ځان د ښې دپاره.

زوی يې غوښت، خير يې نه غوښت.

زهر څه خروار خوړلی، څه مثقال.

زداو ته له یوه اسله، زه نو ولې شوم کم اسله.

زه او ته راضي، څه به وکاندی قاضي.

زه به څه کوم راتور، چې غومبر وهي په زور.

زه پر تا، او ته خطا.

زه پور غواړم، ته نور غواړې.

زه پوهیږم او خپله بني.

زه په تمه، ته بې غمه.

زه تر تا جار، ته پر ما.

زه چې ستا سپیرې خولې ته گورم، رنگ دی د یتیم را معلومیږی.

زه ځان خورم تا له، ته ځاکینې ماله.

زه د ابی مزدوره، ابی د کلی مزدوره.

زه دې باغ نه وینم، ته وایې تارو درغی.

زه یې په پیری شک لرم، ته ور ته مریدان نیسې.

زه دې پر مړی ژاړم، ته مې په خوله پورې خاندې.

زه دې پوزه غوڅوم، ته پیروان غواړې.

زه دې حق نه گنم، ته وایې چې درانه یې وتله.

زه دې نه کرم، ته شین کیږې.

زه دې ورانه منم، ته سپرلو راته ویې.

زه چې ستا بر منگه وم، ونه دلونگ وم.

زه زړه وروړم، دی سیخ راوړی.

زه ستا دارو ، ته‌زما دارو.

زه ساده ، ته‌حرام زاده.

زه گوزم تا ته، ته‌گوزې ماته، کارشو ترمنځ پاته.

زه وایم اوږه نشته، ته وایې پتیری پخې کړه.

زه یم‌ستا د غاړې، ته‌له ما څخه سپیرکی غواړې.

# (ژ)

* ژاولې چخونیا شوې، نه‌دتا شوې ، نه‌دما شوې.

ژرنده‌او جومات نه‌پیژني.

ژبه‌لنده لښته‌ده.

ژر مه‌گډیږه، چې‌سپک نه‌شی.

ژرنده‌په‌چل گرزی.

ژرنده چې بار نه لری، په څه به گرزی.

ژرنده گړی خدای خوار کړی، څته‌پرته‌او مزد خوړلی.

ژرنده که‌د پلار ده، هم‌په‌وار ده.

ژرنده که‌هر څومره گړندۍ شی، لاندغنم‌نه‌اوړه کوی.

ژرنده و گرزی، چې‌اوړه و کړی.

ژرنده‌ماته شوه، تکتکی یې لا بنوری.

ژړا هم دزړه زوړ غواړی.

ژمی کله‌وی، چې‌باد باران‌وی.

ژمی دې تود مه‌شه، دوبی دې سوړ.
ژمی د خوار او غریب زیان دی.
ژوند دې ورک شه له‌مرگه‌بتر.
ژوند یې گران، مرگ یې گران.

## (ړ)

* ړغ د مُلا، امین د کلی.
ړیره زما، واک یې د مُلا.

## (س)

* ساپی سم سمکې.
سپر هغه گرزوی، چې تورو ته‌اوږد سموی.
سپما سپما، نه له ادې نه له ابا.
سپمولی، سپو خوړلی.
سپنسی، په‌نری ځای شکیږی.
سپور د پیاده له‌حاله څه خبر دی.
سپور خور، خاورې خور.
سپی په‌هډوکی نه‌خوړیږی.
سپی چې ځومرد غاپی، هومرد نه‌تراپی.

سپی چې ایسار شی، یا .... یا غاپی.

سپی چې گرزوی، په هډوکی یې وله.

سپی چې غاپی، څه وینی.

سپی خپل بادار ښه پیژنی.

سپی د پیل په سیوری کښې ته، ویل یې دا سیورې زما دی.

سپی دې هغه وخوره، چې پیژنی دې.

سپی ډیر د ځان د پاره غاپی، لږ د کور د پاره.

سپی غاپی، کاروان تیریږی.

سپی کور په کور اخته‌وی، خوار فقیر ته یې یود وی.

سپی که هر څومرد بد شی، بیا هم د چښتن کور ساتی.

سپی هډوکې خوری، ځان ته یې نه انگیری؟

سپی یې وهه، چې خاوند یې وویریږی.

سپی یې د کوره په زغاسته تیریږی.

سپین تکی د هرچا خوښ دی، مگر د پیشو ورپسې کښې لویږی.

سپین غر بې واورې نه‌وی.

سپین ویل یا لیونی کوی یا زورور.

سپین والی د زړه ښه دی، نه د ویښتو.

سپین ویښته د مرگ استازی دی.

سپینه‌ورول کا، توره ویرول کا.

سپینه‌وایه چغه شه، د چا د مخه.

سپین پگړی سړیو ته، ښځو په سر کړې دی.

ستا څه کمی دی، چې په لاس دې سور غمی دی.

ستا دا به خورو، زما دا به ساتو.

ستا یې وابښ، زما یې غاړه.

سترګې پټوه، شمکی (۱) تیروه.

سترګې په بنو نه درېږی.

سترګې د سترګو شرمیږی.

سترګه ړنده ښه ده، نه لار کوره.

ستړو ګټیل، هوساوو، وخټیل.

سخ دهغه چا، چې غم یې پر بل چا.

سخت ساعت، یو ساعت.

سخوندر د موږی په زور غورځی.

سربیره ښوی، د ننه ګربیني.

سر په خپلو ویښتانو نه درنیږی.

سر تړلی، من خوړلی.

سر چې د شال وړ وی، له کشمیره ورته راځی.

سر چې بې جنجاله شی، کډو شی.

سر څه په یوه لوټه ښپیرد، څه په لسو.

سر خریلی ښه دی، نه میره شړلی.

سر د میږی، جنګ د مینده غوایی.

سر دې اسمان ته رسیږی او عقل دې تر پښو لاندې دی.

(۱) - شمکی یو تریخ بوټی دی، چې اوبه یې د تبې د پاره دوا ده.

سر مې ګاټه، غوږ مې بايلود.
سر مې لوړ دی، چې بابا مې په لښکر دی.
سړی کسه، جامه پرې نيسه.
سړی غرونه دی، ښځې يې اړمونه.
سړی يو نور، جامه يې بل نور.
سک چې توره وباسي، بې واره نه وی، غنم چې وږی وباسي، بې باره نه وی.
سلام يې نه اچاوه چې وايي چا وه پر ..... وخوت.
سل جادوګر، يو غيبت ګر نه دی سره برابر.
سل خويونه نور کړی، يو به د مور مور کړی.
سل دې تنورونه دی، يو موتی دې اوړه نشته.
سل ده‌ې موره وای، پر مور دی وای.
سل دې ومره، يو دی مه‌مره.
سل ډ زرګر، يو د ګګر (آهنګر).
سل د پور يوه ايکی دکور برابر نه‌دی.
سل روپۍ پور که، زوی په‌بازار لوی که.
سل روپۍ پور که، داختر شپه په کور که.
سل کاله‌د ونې، يوه شپه‌د مرغۍ.
سل کاله‌بندی و ای، خوسا يې د ژوندی وای.
سل کسه هندوان‌وو، بدرګه يې لا نوره غوښته.
سل مړی پر دې کوی، يو مړی نخرې کوی.

سل منې خوزه، یوه به دې زهر شي.

سل یې ګوري، یو یې غواړي.

سل یې مړه کړه، لا یې بدی نه بولي.

سلواغه هره ورځ په شا کنبې نه لویږي.

سود په لاس، پیسې تر کاله.

سور دی سوریدلی، تراوو ګنو وتلی.

سور سپی، د سور لنډی ورور دی.

سوی چې بار سی، بار یې څه وی.

سوی چې خروړی شي، څوک به وخوري.

سوی دخاوندوی، سپی هسې منډې وهي.

سیالی مې د خانانو سره کړه، کور مې وران شو.

سیال مې یې، مخې مې نه یې.

سیږ خورم، مثقال ګتم، بی‌بی اوسم، که درځم.

سیلاب لوی کاڼي رغړوی، کمکی پر خپل ځای پریږدی.

سینه دې دریاب که، خوله دې بیړی.

سین په ونبو نه بندیږی.

*****

# (ش)

شپه بَه وی، یاران به نه‌وی.
شپه که تیاره ده، منې په شمار دی.
شپه یوه ده، غله یې ډېر دی.
شپې ورځې لکه دارهټ منگوټې کله غم راوړی کله ښادی.
شپنی د لیوه کار نه‌دی.
شرچې غواړې، پرې پیښې به‌شي.
شرع زړه منی، که خوله.
شرع ښه ده، د ښو میړو په ښه ده.
شرع ظاهر گوری.
شرم په‌سترگو کښې دی.
شرم د ایمان پوښ دی.
شرم د بدې چارې، ښه‌دی.
شرم دهغو وساتی، چې په شرم پوهیږی.
شرم مې کوت، بیخ مې خوت.
شرمښ څه غواړی؟ باد و باران.
شرمښ هغه میړه وړی، چې له رمې څخه جلا وی.
شرمښکې د مارسره غزیده، پر منځ وشلیده.
شری سړی، په مکه کښې آرام نه لری.
شکوڼ که حلال دی، رنگ یې د مردار دی.

شلومبې او ښوروا د بې خونده سړي لړېږي.
شلومبې وړه، مستې راوړه.
شنې په غلا نه چيچل کيږي.
شنې که آسانه‌وای، سپرو به پلو ته‌نه ورکولای.
شوده راوړه شلومبې وړه، کور دې خپل دی.
شولې په يوه تک نه سپنيږي.
شولې مې دې شډلې وي، خو د سيال سره مې دې سمې وي.
شيخ پريده، خوله پټه بهتره ده.
شيطان ته يې ويل خاورې خورې، ويل يې چې غوړې . ـسره وي.

# (ښ)

ښادي دريادې غم دی، چې په تاپسې لړم دی.
ښادي د ياری، غم د ورارې.
ښار په نرمه ژبه خوږ کيږي، نه په کلک کوتک.
ښايسته په سلو کنبې يو وي.
ښايسته گل ته دهر چا تلوسه وي.
ښايسته مخ د خوږو زړو مرهم دی.
ښځه په کور ښه ايسې، ژرنده په شور.
ښځه چې زړه شي، خوله يې پسته شي.
ښځه د تن جامه ده.

ښځه د میړه په خوښه ده، نه د کلي.

ښځه د ښامار جنګ ته تیاره ده.

ښځه کړه پښتني ده، ماته به یې کې، سمه به یې نه کې.(۱)

ښځه که هر څو مره ښه ده، د سړي ځای نه شي نیوله.

ښځه یا په کور، یا پر ګور.

ښځه مې دې نجل وي او زامن مې دې سل وي.

ښکار تازي وکړ، خوشالي کوتره (۲) کوي.

ښویې جامې، شوې درنې.

ښه انګور چغال هم خوري.

ښه، اوبه هم نه وړي.

ښه یاران پر ناوه معلومیږي.

ښه به دې د ښو کړم، بد مې چې دمور زوی شي څه به یې سود کړم.

ښه به دې لور کړي، بد به دې ځوړ کړي.

ښه په بدو هم معلومیږي.

ښه په ښه سړي کړه، یا به یې درکړي یا به دې یاد په ښه نامه کړي.

ښه پردې دنیا وي.

ښه پر دنیا کینه، پر عُقبی توښه ده.

ښه پر چا نه ورکیږي.

ښه پر بدو، د میړو کار دی.

(۱)- مطلب ترې ناپوهه ښځه ده.

(۲)- کوته پسې چې د ښکار او منډې نه وي.

ښه په ښه دی، بد په بد.

ښه جالوان دِ طوفان په ورځ معلومېږي.

ښه چې څوک پېژني، بد به ولې کوي.

ښه چې یاد کړې، نو یې برباد کړې.

ښه حال به دې سودمن کي، بد حال به دې هم پک، هم پمن کي.

ښه، خپل ځان ته ښه راولي.

ښه خدای ښه بللي دي.

ښه خدایه زوروره! مور مه کړه د مور مزدوره.

ښه خوی به دې سلطان کړي، بد خوی به دې حیوان کړي.

ښه خوی، د سړي کانه ده.

ښه دوست په بد ځای کښې معلومېږي.

ښه دې د نورو، بد دې زما.

ښه د خپل وي، چې تل ترتل وي.

ښه دې هم د مېړه، بد دي هم د مېړه.

ښه د هغه چا سره خوند کوي، چې پرې پوهېږي.

ښه، زوال نه لري.

ښه ژبه، د خزانې کونجي ده.

ښه، ښه دي، بد بد.

ښه عمل، دلارې مل.

ښه کړي خورې ښه کړي چې زما له کوره یې کارې، بیا یې بیرته راته پاخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه کوه، بد مه کوه.

ښه کوه، له پاچا مه بیریږه.

ښه کوه چې بد نه وینې.

ښه میره، له مور نه زیاته وی.

ښه مې غواړه، ښه به دې غواړم.

ښه وکه، په تاخچه کښې یې کښیږده، یوه ورځ په دې پکار شی.

## (ص)

صبر که تریخ دی، میوه یې خوږه ده.

صبر درنه برخه لری.

صبر د میړو لوی هنر دی.

صفره ووته، بلا ووته.

صورت یې غټ، په کار کښې لټ.

## (ط)

طبیب هغه دی، چې رنځ پرې تیر وی.

طبیب که طبیب شي، خپل سر به دوا کوي.

# (ع)

عاشق سر نه لري، غم د لښکر نه لري.
عاشق تل لوغړن وي.
عاصي پوهېږي او دوزخ يې پوهېږي.
عاقلان بدی ورکوي، بې عقلان په بدو ځان اخته کوي.
عاقل به ځان ناپوه بولي، بې عقل ځان پوه بولي.
عاقل پر مخ ځي، تر شا ګوري.
عزيز د خدای نوم دی.(۱)
عشق او مُشک نه پټيږي.
عشق يې چې پټ که، ځان يې سټ که.
عقل په سر دی، نه په کال.
عقل په پيسو نه اخيستل کيږي.
عقل چې يې کم وي، پر کوربه يې تل غم وي.
عقل د عزت ورور دی، که عقل لري عزت يې پور دی.
عقل عقلمندي غواړي، هنر هنرمندي غواړي.
عقل که نه لري څه نه لري، عقل که لري، هر څه لري.
عقل که څوک مومي، دولت کور لره ور درومي.

(۱)- دا متل د عزيز ولي ارقام ولي دستاينې په ځای کښې استعماليږي. مطلب دا دی، چې قومې عزيز ډير ښه ده، ځکه چې عزيز دخدای نوم دی.

# (غ)

غاترې ته يې ويل: پلار دې څوک دی؟ ويل: آس غوندې ماما لرم.
غته ګوله کومې څيرې.
غتې سترګې ځان وينې، وړې سترګې جهان.
غر به درپه شا کړم، توان به دې پيدا کړم.
غر په غره نه ورځي، سړی په سړي ورځي.
غر که لوی دی، په سر يې لار ده.
غر په پر پټوی.
غر ولاړ، غشي يې يووړ.
غريب هندو دی، چې ايمان نه لري.(۱)
غريب سړی او برګ سپی.
غريب ته يوه ګيډه مستي پسرلی دی.
غرې زمريان ماتوي، غوبنې ګيډه خوري.
غړ که شاربې په دربې، کوچ يې خوري توره پشي.
غړ که هر څو چې شاربل کيږي، کوچ کوي.
غړی، دغوړيو شی.
غلا کړه، بلا دې پر ما کړه.
غلا مه کوه، له هيڅا مه بيريږه.

(۱)- په داسې حال کښې چې يو سړی ځان ته غريب وايي يا بل څوک ورته غريب ووايي، نو دی وايي چې غريب خو هندو دی، چې ايمان نه لري.

غل اوسه، په انصاف اوسه.

غلبیل ولاړ شو، کوزی ته یې ویل په تا کښې دوه سوری دی.

غل په غلا نه شرمیږی، ته یې په نیولو شرمیږی.

غل په غوجل کښې پټیږی.

غل تر کوره پورې مه شړه.

غل چې غلا ته ځی، قسم په شاګرز وی.

غله څه غواړی، د ځان مله غواړی.

غل غل پیژنی.

غل که نه تښتی، مل دې وتښتی.

غل که هوښیار دی، قافله والا بیدار دی.

غل له خپل سیوری څخه ویریږی.

غل له خپل ترپ نه هم ویریږی.

غل له ځوکۍ داره نه ډاریږی.

غل هم وایی خدایه، مل هم وایی خدایه.

غل یو، لارې یې ډېرې.

غلو سل کورونه وران کړل، خپل یې ودان نه کړ.

غلو به قافلې وهلې، نونه چې کوتې یې وهلې.

غله دری وهی، بدبختی پلی وهی.

غله کورونه وهی، بدبخت زورونه وهی.

غلیم چې ژوبل وی، دوستان به ډیر وی.

غلیم که دې د سر وی، تر خپل منافق بهتر وی.

غم بد دی غمجن بد دی، دوست غواړم دښمن بد دی.

غم دی د لالی په سرمسته دې تازه ګرزی.

غم له غمه نه شرميږی، پرون ابی مړه وه، نن توره چرګه.

غنم یې لاپاخه نه دی، ژرنده کښې یې اوس وار نيسی.

غوا که توره ده، پی یې سپينې دی.

غوايی حلال نه دی، ښانک په سر ګرزوی.

غوايی چې سره ښکر په ښکر شی، زيار د بوټو او کانو دی.

غوټه چې په لاس خلاسيږی، په غاښو يې مه خلاسوه.

غوړ پر غوړو تويیږی.

غوړی په ګوتی، اوړه په موټی.

غوړی د زيړې غوا، کوچ د سپينې غوا.

غوړی چې ډير شی، څوک ځان نه پرې غوړوی.

غوړی لا غوړ.

غوړی يې ګاټه، سر يې بايلود.

غوښتو پلمه غوښته د بنی خوله وخته.

غوښې چې پر قصاب ارزانه شی، پر جهان ارزانه شی.

غوښې خانانو وخوړلې، پر هډوکو يې سپی جنګ کوی.

غوښه که وسوځی هم له پيتونه ښه ده.

غوښې دهرچا خوښې دی، مګر پيشی ايمان پرې راوړی دی.

غوښه د هرچا خوښه ده، خو د پيشو ورپسې کسی لويږی.

غوښې دې هغه خوری، چې توری وهی.

غول خوري، مښوکه څنډي.

غونډی ګلیګی تشوی، جوالونه کوچني تشوی.

غویی دی چې په ونډری لوی شو، غاښونه یې مه ګوره.

غویی چې زوړ شي، په خوب کښې کونجاړهویني.

غویی د بزګر ملاتړ دی.

غیرانو نه چې پر خره باندې شي، نوم یې غیرت خان شي.

## (ف)

فقیرانو ته کوڅې مه ښیه.

فقیر ته یو ور پورې، سل ورونه پرانستي.

فقیره کور دې چیرې دی، ویل: هر چیرې.

فقیري بې مکره نه کیږي.

فقیر خو فقیر یم، کچکول مې میین دی.

فیل په مالګه څه پوهیږي.

فیل چې مړ شي هم په نس کښې یو زنګون اوبه ولاړې وي.

فیل چې ژوندی وي، یو لک چې مړ شي دوه لکه.(۱)

---

(۱)- د فیل غاښونه ډیر قیمت لري، نو ځکه یې پس له مرګه قیمت زیاتیږي.

## (ق)

قابلیت د لمر سترگه ده.

قاضي ملامتولم، زه نه ملامتیدم.

قام له قامه نه بیلیږي.

قدیمي یار، زین کړی اس دی.

قربان له خپله کوره، چې خبرې شي په زوره.

قصابان چې ډیر شي، غوا مرداریږي.

قصاب قصابي کوله، یتیم شپه ورته تیره کړه.

قلم یې چې جاري شي، مور پلار یې راضي شي.

قنداو کورت، په یوه نرخ دی.

قول یې چې خطا وي، په قرآن به یې څه ویسا وي.

قیاس انا کاوه، چې ملایې غوټه ماته شوه.

قیاس بابا کاوه، مر کنډی یې ماته شوه.

## (ک)

کار اسان دی، پیل یې گران دی.

کادانه خوسیان خلاسوي، کندوان کوچینیان.

کار نه ده سسته پسته، خوراک ته ده تندرسته.

کار د بابا، خوراک د لالا.

کار زده کړی بنه دی، دښمن وژني.

کار کوه خدای یادوه.
کارگه‌ویل زما سپین ککیه زیوه زیزگی ویل زما پستکیه زویه.
کارگه مرداره خوری مښوکه څنلې.
کارگه غونډې هوښیار دی.
کارگه دزرکې تگ زده کاوه، خپل یې هیر شو.
کارگه په پسرلی څه خبر دی.
کارگه ته کنډر هم باغ دی.
کارگه له‌اصله توردی، سپین به‌نه شي.
کاروان په باج نه ورکیږی.
کاروان تیریږی، سپی غپیږی.
کاروان بندیږی، دخلکو خولې نه‌تړل کیږی.
کارونه ازلی دی، نه په‌زور نه‌په‌زاری دی.
کار مې د بل خوښ، خوراک مې دخپل.
کار مې له لاسه‌واخله، کب مې له‌خولې.
کارگر کور مړوی، لټ مور ژړوی.
کاږه بارونه، خدای‌سموی.
کاسه په‌کاسه ده، کرده په‌کرده ده.
کاسه‌چې په‌کاسه‌شی، دخدای وجه‌به‌څه‌شی.
کال به‌داوی، شپې به‌نورې.
کال دکاختې دی، شامت د بوډۍ دی.
کال دې په‌لکړه تیر کړ، که په‌ککړه.(١)
کالی چې اوبو یووړه، څوبارې ما ورپسې خوشې کړ.
کام پسې، ناکام دی.

(١)- له لکړی نه‌مطلب گدایی او له ککړې نه ختې او مزدوری ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کام کام ته ځی، اوبه خپل مقام ته ځی.

کام کام لره ځی، وریجی لغمان لره ځی.

کامه یې لوټ کړه، بیراګان اوس خبرېږی. (۱)

کاڼې به پوست نه شی، دښمن به دوست نه شی.

کاڼې د یتیم په سر لوېږی.

کبر .... کاوه، خوار یې پښتون کړ.

کبرجن د خدای دښمن دی.

کتابونه دریابونه دی.

کټ دې ستړې کړ، چې پاتې منا (۲) شوه.

کټوه چې په سر رانه شی، نه تویېږی.

کټوری ګه مات نه شو، ازانګه یې ولاړه.

کټوې کولال جوړوی، نیت یې مریې بدوی.

کنچنی ته ویل چې یار دې مړ شو، دی ویل: د کومې کوڅې؟

کراسته داسې ځای خرڅوه، چې پرې کښېنې.

کربوڼې، سره بولی.

کرمیه غم نه ؤ غم دې راووړ.

کری اوریشې، غواړې غنم.

کړې وړې چاره، یو آس غواړی درې ناله.

کړدی په خپلو مراندو ولاړ دده.

کړې چارې په خدای سمېږی.

---

(۱)- دا متل په ننګرهار کښې ویل کیږی.

(۲)- په ونه کښې اوچت ځپر ته وایی.

کشتۍ په نیت چلیږی.

کلا تړلې، بلا تړلې.

کلپې روپۍ، په زرگرنه چلیږی.

کله دریاب، کله کریاب.

کله وار د ابا، کله وار د ادې.

کلی دې ودان وی، لیوان دې پرې روان وی.

کلی په مشر، ممبر په ملا ښه ښکاری.

کلی کوربه اوراوخیست، پیغلو ناوو به غږ نه کړ.

کمال زده که، په تاخچه کښې یې کښیږده.

کم اصل چې بسیا شی، عقل یې خطا شی.

کم بخت سړی به د پردی خیرات سرخان وی.

کمبختې ښځې په کال کښې دوه واره لنگیږی.

کمیس مې روغ کړ په بخۍ، خیال مې خپل گوتې پردۍ.

کنز (۱) خوهر څه وایی، که یې څوک ومنی.

کوتک وهه د ورور دپاره، خبرې کوه د خدای دپاره.

کوترې دی، یو له بل بهترې دی.

کوټ کوټ دلته لرې، هگۍ هلته اچوې.

کوټه وسوه، دیوالونه یې پاخه شول.

کورټ او غوړی وای، ناست ورته مړنی وای.

کورت دې وی غوړی دې وی، په منت او په سوټی دې وی.

(۱) - د فقې یو کتاب دی.

کور دغو گران وی، چې گټلي يې په ايمان وی.

کور د ماما دی، لاس منډه گوري را باسه.

کور کښې دې جواری نشته، له دماغه دې د پلو بوی ځي.

کور دې لرې، کوڅه دې نژدې.

کور چې سره کور شي، د کلي مخې شي، کلي چې سره کلي شي د ولس مخې شي.

کور مې درجار کړی، تروږه د باندې.

کور مې دې تالا شي، بول مې دې بالا شي.

کور ودان، د ورور ودان.

کوزده له کوره وکړه، واده له پوره وکړه.

کوز بار تر مزله نه رسيږي.

کوز لرگی په بار کښې نه ترل کيږي.

کولاله، وکړه خپله سياله.

کونډه هم ژاړي، رنډه هم ژاړي، برنې راوړي په ناورين ژاړي.

کونډه د ليوره په تمه، د ميړه ووته.

کونډه چې سترگې توري کړي، ميړه به وکړي.

کونډه چې د ميړه په تمه شوه، له ورو تيولولو ووته.

کوڼ دوه واره خاندي.

کوم شی چې نه پايي، زړه ترل پرې نه ښايي.

که آغا مري که بي بي، زما دې وي پخه ډوډۍ.

که باران وي که ږلۍ، مبلمه غواړي ښه مړی.

که باغ خراپوې، آلو پکښې ږده.
که باخوږ نه خورې، بد پرې مه وایه.
که یې ځنبتنه ډېرېداې، دغرو غر څه به ډېر وای.
که پورته گورم پانړ دی، که ښکته گورم پړانگ دی.
که پرتا واوری، پرما به وڅاڅي.
که په خپل وطن کښې خان یې، پر بل وطن اریان یې.
که په ژړا ژوندی کېدای، مړي به ژوندي شوی وای.
که په سبا ناری دې ښاد شوم، غر مې ته به دې هم پاتې شم.
که پیل په پیسه شي، چې پیه نه وي څه یې کوم.
که پیو ته دې زړه کېږي، غوا واخله.
که تا ویل ته یې، ما ویل ته یې، هم به زه یم هم به ته یې !
که تل لوونه وي غواګان به نه وي، که تل غوبلو نه وي غوایان به نه وي.
که تورو دې لنډه ده، قدم ور واخله.
که ته کړې سمې چارې، تا به څوک باسي د لارې.
که ته غر یې، زه غونډۍ، که ته مار یې، زه لنډۍ.
که ته مرې، هم ما خوبه وړې.
که ته کټوی یې، زه دې برغولی.
که ته نازو شی، نو میر خان به څوک زېږوي. (۱)
که ته تېګ یې، زه تېګ مار.

(۱)- اشاره د حاجي میرویس نیکه ته شوې ده.

که ته‌وله دنيا اوبه ونيسي، د اېلې تر پړکی پوري وی.

که جنګ نه کوې، لکۍ خو دينګه ونيسه.

که ځوک نه شرمېږي، ځوک به يې وشرموي.

که څه وابيي، څه به‌واوري.

که ځان په عذابوې، له‌بې عقل سره اشنايي کوه.

که‌ځان وژنې زردکه خوره، که زردکه وژنې اوبه پسې چيښه.(١)

که ځغلې له جنجاله، نو تاک مه پردد بې دېواله.

که خاني غواړې، دير ته لاړ شه. (٢)

که خاورې اخلې، نو له لوی ډېران يې اخله.

که خرځوری مې زاړه دي، هډوکی مې درانه دي.

که‌خرد يې نه وړی، په کوتې يې بار کړه.

که داغوا مړ شي هم به تا وره شي.

که د بيديا کانې پاسته وای، ګبدړانو په وهم نه‌وای پرې ايښې.

که‌دنيا ډېره شی، آخر به تېره شي.

که‌د سرکار دکوره تبل درکړه شی، لمن ورته نيسه.

که دې په ښو ياودل، په ښو به ياد شي.

که د فصل خواريم، د اصل خوار نه يم.

که دېګ د سر وشي، ښځ يې د مسو دی.

که‌د سهار ورک مابنام کورته راشی، ورک نه‌دی.

(١)- معموا دي، چې اوبه د زرد کی نفخ لرې کوي.

(٢)- ـېړ په پښتونستان کښې يو رياست دي.

که دښمن گیدړ وي، تا به ورنه د زمري نیسه.

که دومره بادر وای، نوم به دې فتح خان ؤ.

که دښمن دې هر څومره خوار شی، قوي يې بوله.

که د کاله‌رنگ بدیږي، د میلمه هم بدیږي.

که‌روزي په عقل وای، بې عقل به له‌لوږې مړ ؤ.

که‌زه نه وایم، دا گوډه پښه مې وایي.

که‌زور په بازو نلری، زر په ترازو نلری.

که ساړه دي، په تول ښاره دي.

که‌زمری وږی پاتې شی، د گیدړی پاتې شونې نه‌خوری.

که سر غواړې، سرمه پاشه.

که سړي وزگاړ وی ، د کوچنی خوشحالول گران نه‌دی.

که‌سل کاله ژوندي يې، عاقبت د گور بنده یې.

که سیند لوی دی، خو د سپی ورته‌ژبــه وروړل دی.

که غاپې نه، څک خواوسه.

که‌غر لوي دي ، په سر يې لارده‌ده.

که‌غوا راغله په پی، که نه‌راغله پز دی.

که‌کنبښتې خوله پټه، په‌لاس به رانه وړی هیڅ گټه.

که کنبته توکړم زیره ده، که پورته توکړم بریت دی.

که کتبود خوټېږي، خپلې شونډې سوځي.

که‌لاړ شې تر بلخه، درسره ده خپله برخه.

که لعل هر څومره خراب‌شي، له جسوښه دی.

که ما چاړه درلودای، سر به‌مې ولې داسې ببر وای.

که ما وپوښتې، ته به وتښتې.
که مړی خبرې کولی، نو ولې به مړو.
که مېلمه يې، شوټ خو نه يې.
که مځکه ټوله اوربشې شی، دخره پکښې لپه ده.
که مشر مشرتوب غواړي، کشر هم ددنيا دود غواړی.
که مرگ غواړې، کندوز ته لاړ شه.(۱)
که نه پوهېږې؛ ځوان مال اخله.
که نه مرې، آخر به ومری.
که نړی ودانه ده، په مړی قيامت دی.
که والوزې مرغه شې، دنصيبه به تېر نه شې.
که ورور شوې درور شوې، که نه ورځه د خوارې خوارۍ اور شه.
که ورور دی، په مخه دې گور دی.
که وږي يم، سرې لا نه خورم.
که ورځ د زورور ده، شپه د کمزورې ده.
که هرڅو هوښيار يې، نادان پوښته.
که هرې ښځې ميرخان زېږولای، نو ميرخان به ولې يادېدای.
که هين کړی که پين کړی، دا پټې به شين کړی.
که يار نادان وی، نو کار گران وی.

((((* * * * * ))))

(۱)-دامتل د هغه زمان دی، چې کندوز له شاړو ځمکو او ځنگلونو څخه ډک و. اوس کندوز ښه ودان دی او د مرگ په ځای پکښې ژوند راغلی دی.

# (گ)

گامیبنه د گُل په بوی څه پوهېږی.

گټه بې سترپیا نه کېږی.

گټه په تاوان کېږی.

گټه په سر سینه کېږی.

گټې تر گټو لاندې دی.

گټې د اروا وو دی.

گټې دې لالا کوی، مرې دې عبدالله وهی.

گرگه بل علاج دې نشته، بې له مرگه.

گرگه چې زړېږی، اور پرې لگېږی.

گړنگ یې څڅېدہ، چې خدای وکړه ستا یې څه.

گلاب په بوټی کښې ښه ښکارېږی.

گُل د کدو گُل گوره، بو پورته کوه ترې لاندې بل گوره.

گُل له گُل سره ښه ښکارېږی.

گُل چې دماخی وی، هم ښه دی.

گیلگی د مورې، په زور غورځی.

گنجی که ډاکټر وای، د خپل سر علاج به یې کړې وُ.

گور که گران دی، خود سړی ناکام دی.

گوره چې اوښ پر کوم اړخ څملی.

گومل که وچ دی، رود یې بهیږی.

گبدړه چې څه پیدا نه کړی، څکولي (۱) پټوی.

گیدړه د اوښ په سیوري تله، وېل یې دا زما دی.

گیدړې ته خپل پوست بلا دی.

گیدړه تر هغې دی ښادی ده، چې څو نمر نه دی ختلی.

گیدړې سترگې پټې کړې، سپی ونیوله.

گیلانه څه بلا شوې، چې د لوی و کم د خندا شوې.

گیله له خپله کیږی.

گیله له یاره ده، نه له ماره.

(((****** )))

(۱)- څکولي بوه بوټه وچ پوست ته وېل کیږي.

# (ل)

لار په مزله لنډېږی.

لار مینډلې، مامی پرې تللی.

لار وهه، د خدای لار گوره.

لاس چې مات شی، غاړې ته ځی (لوېږی).

لاس مې تور، مخ مې په تور.

لاس چې ترسخر لاندې شی، په وروېې راکاږه. (۱)

لاس د بری کار دی.

لاس لاس پېژني.

لاس مې تورې پیشو ښکلی دی. (۲)

لال په ایرو کښې نه پټېږي.

لالپوره، په مېړو پوره.

لامبو په زیړه نه دد.

لانده کړی، دربښلی، وچ مې لانده نه کړی. (۳)

لتې د دوبی سیورې غواړی، د ژمی پیتاوی.

---

(۱) - سخر لوښې تړی ته وایی.

(۲) - دا متل دا ډول هم ویل کېږی: «لاس مې تور سپی ښکلی دی.

(۳) - ددې متل معنې دا دد. چې ضرر رارسېدلې هغه به وزغمم، نور راپېښ نه کړی.

لټ يې د کور په وره کښې غوا ړ که نه وي، نو بيا ژاړي.

لته ښځه، ولور نه لري.

لرګي تراشه، (توره) سړي ځنې جوړوه.

لرې شي برې شي، په باغوان برابرې شي.

لرې له سترګو، لرې له زړو.

لرې مې واده کې، چې د ابا نه کنډولې شاکاسې وبولم.

لرې مه ځه چې لېوه دې و نه خوري.

لرې مه ځه، نژدې و ګوره.

لړم ته يې وېيل کوچ، ده لکۍ پر شا واړوله.

لږ خوره، هوسا به اوسې.

لږ خوره، تل خوره، ډېر خوره زهر ګنډېر خوره.

لږ خوره، نوکر ونيسه.

لږ خوراک، ډېر عبادت.

لږ خوراک، د ځان کومک.

لږ خوره، ډېر ګټه.

لږ ورکه، ډېر وګټه.

لږ ويل، ډېر کار.

لږ غريبږه، ډېر کوه.

لږ ګټه، تل ګټه.

لږ مې درکړه، نو خوند يې درکړه.

لَغته د هغې غواړه، چې شيدې يې خوري.

لکه ابا، هغسې یې قبا.

لکه ادې، هغسې یې پایځې.

لکه اوښ لرې گوره.

لکه پړ، هغسې وراشه.

لکه پزه، هغسې نته.

لکه تنده لښته پر هره خوایې کږ وی.

لکه جولا، خپلو پښتو ته گوری.

لکه چرگ اذانونه ډېر کوي، لمونځ یې هېچا نه دي لیدلي.

لکه چرگ په ناوه زوړ شوی.

لکه ځان، هغسې جهان.

لکه ځنگل، هغسې چغال.

لکه د آسمان کټ، چې د شپې پیدا شی، د ورځې ورک شی.

لکه د تبې ډوډی، نه مخ لری، نه شا.

لکه زړ، هغسې یې سور.

لکه ژرنده، هغسې یې دوړه.

لکه شبخ چلی، په ښاخ ناست ښاخ وهي (ربېي).

لکه غر هغسې ځناور.

لکه غر هغسې کربوړی.

لکه غوبې چې سریې واخیست، یا به دېوال ړنگوی یا به جغ ماتوی.

لکه کوتکی، دمور دمخه زغلی. (۱)

(۱)-گوتکي دحرې کوتې ته وایې.

لکه لنده کراسته، کشېږي پرې کېږي نه.

لکه لېوني خپل ځان ته خاندي.

لکه لېوني له کوره، په سارا خوښ دی.

لکه مخ، هغسې څپېړه.

لکه میندې، هغسې یې لوڼې.

لکه مرګ په کورتو پسې مه زغله.

لکه ورغومې، هومره یې کومې.

لکه لور، هغسې ځور.

لکه بخت، هغسې یې تخت.

لکۍ ښه دی که پتۍ؟ ویل: پتۍ ښه دی.

لمر په دوو ګوتو نه پټېږي.

لمر څېره وهی، خرکار پټیره.

لنډ کلونه، اوږدم یې پېغورونه.

لنډه لښته، هرې خواته کږېږي.

لنډې د مار سره غزېده، پر منځ دوه ځایه شوله.

لنډېې د اوږد سره برابراوه، د ببخه ووت.

لوټه په اوبو کښې ږدی، تېرېږي.

لوخ له اوبو، نه بېرېږي.

لوخ په خوب کرباس ویني.

لوخې د کام ښه نه غوښته، سرېې په دریاب کښې وچ شو.

لور پر لوټه تیره کوي.

لورچې ښه‌شي، د مور کوشی یې په پښه‌شي.

لور دموره بېلوی، تنګه بلا ده. (۱)

لورچې د مور دغېږې کاږی، نوم یې تنګه دده.

لور د لویه کوردغواړه، کوچنی ته یې ورکوه.

لور پرېږده، کور یې کښېږده.

لور زېږول ښه دی، نه خوشې کښېناستل.

لورې تاته‌وایم، مېروری غوږ پرې ونیسه.

لور وهه د وروږ دپاره، ویل کوه د خدای دپاره.

لویه ګوله ښه‌ده، چې دنس پکښې ښه ده.

لویه ګوله ثواب لری، چې د نس هم‌پکښې خیر دی.

لوی‌مې کړی، لویې را مه کړې.

لویې یو خدای لرد ښایی.

لوېې پر کور وایی کوچنی بې پر صحرا.

لوی د خدای په هیله، وړوکی د لوی په‌هیله.

له آخرت نه، څوک راغلی دی.

له بازاره زد راغلم، له نرخه ته خبر یې!

له بازارد ووځه، له نرخه مه‌وځه.

له بدو څخه یا غلي‌اوسه، یا لرې اوسه.

له بدو سره چې اوسې، که‌بد نه کړې بد به یوسې.

له بله به‌خپل ته وژاړی، له‌خپله به چاته‌وژاړی.

(۱) – پر ولور ایراد نیول، غرض دی.

(c) kitabton.com The Digital Library



له بې باکو مې څه باک شی، چې پردی کور بې اتاک شی.

له بې کارۍ نه، بېګاری ښه ده.

له پلالې لاندې، اوبه مه تېروه.

له پلار نه بې، زوی غټ دی.

له پردې سړی، ګيله نشته.

له پردې زویه، خپله لور ښه ده.

له پلیتې ښځې، له تړېدلې دېواله، له لېونی سپی څخه ځان ژغوره.

له تربوره مې زړه کړم دی.

له تش ټوپکه دوه کسه ډارېږی.

له تنار دیې، موږی لویه ده.

له جاهل سره چې وایې، لکه مېخ چې په تېږه ببایې.

له خزانې سره مار وی.

له خولې دې وځه، په ګرېوان دې ننوځه.

له خېره دې بېزاره، سپی دې د کورې کړه.

له خېره مې دې توبه، سپی دې د ګرزوه.

له خوراک نه یې تمه ښه ده.

له خوند نه یې شخوند ښه ده.

له څاڅکونه سیند جوړېږی.

له سختې مرګ نشته.

له غم نه یې خلاصېږم نه، له ښادی څخه یې خبرېږم نه.

له کلی ووځه، له نرخه مه ووځه.

له کندو ښخه بې، موری لویه‌دده.

له‌کوره په‌سارا خوښ دی له‌ویشه‌په تالا.

له‌کوره به‌درسره سم، نه‌تر گوره.

له‌کوم مېلمه نه‌چې خلاصېږي هغه‌ته‌ډېر خانده.

له‌کوره یو لېونی نه چې تول.

له کوره بو لېونی بس‌دی.

له کونډې سره چې هر څومره ښه‌کوې، دا پخوانی مېړه یادوی.

له ماره مار بچي زېږي، له گوسنې لتيکه.

له ما پاتې ؤ تاته، له تا پاتې ؤ ماته.

له ما پیدا شو، راته بلا شو.

له‌مرگه دې قربان شم، کباړی دې په ما جوړه ده.

له موره بې نمسی غټه‌دده.

له موره که‌یو یم، له‌کامه خو یو نه یم.

له‌لېونی سپی ښخه، هرڅوک وېرېږی.

له‌ناکامه‌خلک هندو ته ماما وایی.

له نړېدلې دېواله وېره په کار ده.

له‌نشته نیني هم ښې دی.

له‌نیا نه‌یې لمسی غټ‌دی.

له ورخه‌تېرې اوبه، بېرته نه‌راگرځی.

له‌وزکارۍ ښخه، د کروتو چیچل ښه‌دی.

له وړی نه ډوډی غواړې.

له وېش نه يې په تالا خوښ دی.

له هغې بلا نه چې خلاصی نه وی، دوه کرته په مخه ورځه.

ليلی ته د مجنون په سترګه ګوره!

للی د مخه، للی په پسې.

لېمڅی هلته خرڅود چې پرې کښېني.

لېونی په ژمی کښې فالوده غواړی.

لېونی په څه خبر دي.

لېونی ته مه څه ورکړه، مه څه ځنې غواړه.

لېونو سره چا کلی کور نه دی کړی.

لېوه په وازه خوله وهنه کوي، مَلِک يې په پټه خوله.

لېوه ته يې نصحيت وکړ، په هغه ورځ يې شل وداړل.

لېوه ته يې نصيحت کاوه، ويل: غيلی لرې ولاړې.

((( * * * * * * )))

# (م)

ما پر آسمان غوښتې، خدای پر ځمکه راکړې.

ما پور غوښته، تا نور غوښته.

ما ته بې که، چغکه یې مه بوله.

ما چې ته لالا بللې، ما ویل ته به تاتکی به گوته را وکاږې.

ما دېرش روژې، د اختر دپاره نیولې.

مار چې لنډی شي، دوسره خولې اچوی.

مار چې غار له ورشي، نو سمېږي.

مار چې دې وخوری مار دی، شرمښکی د ناسور داغ دی.

مار د شینشوبي بدراتله، شینشوبي د غار په خوله کښې ورته شین دي.

مار که اوږد دی، سمساره پرې سور وره دد.

مار اوږی، مار خوږلی.

مار چېچلی، له پړی وېرېږی.

مار دې لنډ کړ، مړ دې نه کړ.

مار خو نه یې، چې خاورې به خورې.

ماړ ته کتی نه شم، وږی ته یې ورکوی نه شم.

ما کور، مرگی راخپور کړ.

ما که وژغونی په کار درلودای، دا دې کتوې ډکې وی.

مَلکي په مشرو کشر پورې اړه نه لري.

مالا جوړولې، لالا غزولې.

مال په دهقان سپاره، دهقان په خدای.

مال په مال پسې ځي.

مال چې خاوند ته نه وي، حرام دی.

مال یو ځاي، ایمان سل ځایه.

ما نانگه خواړه، بچي مې پلاو خواړه.

ماما ځان گروي دخور بیې تمه کیږي.

مامو ته، بیا دې موته.

ما ویل چې زما نشته، ددې خیالي خو لا نشته.

ماهي ویل ما به خبرې کړې وای، مگر خوله مې د اوبو ډکه ده.

ماهي چې نه نیسې، نو یې تر لکۍ نیسه.

ما ولېږولې کلاته، ته لاړې مشغولاته.

مچ نور څه نه کوی، خپله خوابدوی.

مچۍ په لوی لاس مه بونوه.

مځکه هغه سوځی چې اور پرې بلیږی.

مځکه مور ده، زر زېږوی.

مخامخ روي ته څوک نه وایي چې روی.

مخ کنبې څه، خو بهرته هم گوره.

مردار زړوکی اور نه اخلي.

مرگ او خوب، یو شي دی.

مرگ په ماړه نس ښه دی.

مرگ په ډول او سورنی نه راځي.

مرگ ته ځوان او زوړ یوشي دی.

مرگ حق دی، گور او کفن په شک کښې دی.

مرگ حق، میراث حلال.

مرگ د ټوپک ښه دی، نه د تلتک.

مرگ د مرض زوی دی.

مرگي د اوبو وار دی، نن پر ما سبا په تا دی.

مرگي نژدې اندېښني لری.

مرغان هغه سره کښېني، چې ښې سره ورته وی.

مرغۍ چې په بوټی ننوزي، ځای ورکوي.

مرور دوې برخې لری.

مړیې په مستو، مست وی.

مریي ته یې ویل مرییه، ده وژړل، ساووته یې ویل مرییه، ده وخندل.

مریي ته یې ویل چې رادې نیسم؛ ویل: ستا اختیار دی، ویل تښتې خو به نه! ویل: زما اختیار دی.

مریی غونډې یې گټه، ساوو غونډې یې ځته.

مړانه د مېړو جوهر دی.

مړونه یې په خولو گټي، اسونه یې په سوو گټي.

مړونه مري، نومونه یې پاتېږي.

مړی به ډېر څه وایي، که یې څوک ومني.

مړی په‌ژړا، نه ژوندی کیږی.
مړیؤ، ویر یې نه‌ؤ.
مړ اور پوکوی.
مړې اېرې، مه‌شینده.
مړی څوک په‌لغته نه‌وهی.
مړی ته‌شپه او ورځ یو دده.
مړد ناري وهي، چې مونږ مړه یو، یادسړو ملېرو له مړانی موندلې دده.
مزدور چې له کال نه تېر شی، د کاله واکدار شی.
مزدور چې نور کارونه‌لری، ور به پورې کوی.
مزه یې ښه دده، را تله یې.
مزې تاوکړې گېډړې، همېشه دې شونډې غوړ دی.
مړکانو گینگړې جوړ کړ، ویل یې دپشی په غاړه کښېږې به یې څوک اچوی.
مړک په غار نه‌شو ننوتلای، چج یې په‌لکۍ پورې غوټه کړ.
مړک چې کوړ په‌ژړنده کښې لری، څه غم‌لری.
مړکه خاورې کینه، خاورې دې په کوته.
مسافر له خیرهٔ پوښته، له شپو یې مه پوښته.
مسافری، اوم سړي پخوی.
مستې د غلسینی، بانه بنگ دی.
مسجد د خوب ځای نه‌دی.

مسجد که ونړېږی، محراب یې پرځای وی.
مشر مشره برخه لری، کشر کشره.
مشر د مشر ځای لری، کشر د کشر.
مشر د کشر پل دی.
مغزی زمریان ماتوی، غوښې گیدړان خوری.
ملا ځنگله ته نه ځی، مېلو هوارې ته نه راځی.
ملا هم پاک، مسواک یې هم پاک.
ملا بانگ او چرگ بانگ فرق لری.
ملا لور نه خرڅوی، هسې یې سر لوروی.
ملا ملا تلبر دی، یو ملگری مې بر دی.
ملا مې کړې، د خپل ځان بلا مې کړې.
من خورم، سېر گنم، بي‌بي اوسم که درځم.
منډې به لالا وهی، مړی به عبدالله وهی.
منکر نر دی، قایل خر دی.
منگی هره ورځ نه ماتېږی.
منگی کله کله ماتېږی.
موچې د نورو څپلې گنډی، مگر خپلې یې څیرې پېړې وی.
مور چې یې متېکې وی، لور یې اشوکې وی.
مور و پلار چې زاړه شی، له‌شکرو لا خواره شی.
مور و پلار یې پر قاضی، هلکان یې پر بازی.
مور نه ده مېره ده، رانه کنبلې یې چاره ده.

مـــور يې په‌کلي شلومـــبـــې غـــواړي، لوريې په‌نيم من کـــوچو سر، نه‌غوړوي.

موري په بد راضي.

موريې پيدا نه‌وه، لور يې پر بام گرزېده.

مور نه مېړه کېږي.

مور يې چې درخانۍ وي، لور به يې ښاپېرۍ وي.

مور بزگر دې پر کور مېلمه مه شه.

مور شوم په زردکو، ښيا به نه ځم زېړانوته.

مور د وړۍ د حاله څه خبر دی.

مور تول د يوه لاس گوتې يو.

موزی لايق دي د شپې، کز بره مه پرې اغوندی.

مه چاته څه ورکوه، مه د چا زړه بدوه.

مه خوره هغه کراړه، چې پرې نيسي دی تر غاړه.

مه خوشال وای، مه‌ختک وای، مسلی‌وای خو ځواني وای.

مه داسې خوږ شه، چې څوک دې وخوري، مـه‌داسې تريخ‌شه، چې څوک دې وغورځوي.

مه‌د چا دارا پاته‌کېږي، مه‌مې چاته پاتې کړی.

مه‌غوندی تشوه، مه‌وړی ژروه.

مه‌کرل کړه مه‌ربېل کړه، توری‌ځنی اړول کړه.

مه‌کړه هغه چار، چې‌نه دی مور کړی‌وی نه‌پلار.

مه‌کړه دروېشه، پر تا به‌درشي پس‌و پېشه.

مه‌وایه پرما، چې دربه‌شي پرتا.

مه‌کوه په‌چا، چې وبشي په‌تا.

میاشت د لومړی ورځې معلومېږي.

میا خېل که ښه‌ځوانان‌وای، خپلې مېږی به یې مېږی کړی‌وای.

میراث دې هغه ته پاته شه، چې هم یې خوری، هم پرې ژاړی.

میراث‌خور ښه‌دی، که اموخته‌خور.

مېږه مې نه‌لیده، تر مور مېنه.

مېږو ته گوره، برخې وېشه.

مېږو له خندا مونډلې‌ده.

مېږونه‌که څه نه‌دی، له‌خدایه لرې نه‌دی.

مېږه څه‌وهلی څه‌پورې وهلی.

مېږه ته‌مه‌وایه چې مېږه گیه.

مېږه‌یا نېکنام، یا بدنام.

مېږه مړ که، مېړانه یې مه‌ورکوه.

مېږه چا په خواری نه دی کړلې.

مېږه مرداره، پور پر غاړه.

مېږه که ډنگره شي، هم د ورې ورته هیله ده.

مېږه‌دی په لېوه وسپارله.

مېږی ته چې خدای په‌قهر شي، نو وزرونه وکړي.

مېږي ترخان لوی بار وړی.

مېږی پړانگان ماتوی، غوښې گیدړان خوری.

مېښه په خوب کښې تاپوګان وهنی.
مېلمه په ننګ ښه ابسی، کور به په ست.
مېلمه به دی شم، مګر نه په مې باروی، نه به مې بندی کوی.
مېلمه خپل نصيب خوری.
مېلمه شړلی ښه دی، نه په ګېډه، نهار.
مين يم، مګر ځان سيند ته نه اچوم.
مېنځه چې توده شی، هلته بيده شی.

## (ن)

نا بلده غل، کادانه وهی.
نا بلده غل، په بوساړه ننوځی.
ناپوه يې دومره په بل نه کوی، لکه په ځان.
ناپوه يې په سلو کلو ګټی، په يوه ورځ يې بابلی.
ناتارچې خپل ښبتن را و نه ګرزوی، نور يې نه راګرزوی.
نا خبره د مرکې لېوه دی.
نادار پور وړی، چا نه دی وژلی.
نا راسته سړی، په وچه ځمکه ښوېږی.
نادیده تلتک نه درلود، چې پیدا یې کړ تر غرمې پکښې پروت ؤ.
ناسته ښځه کار کوی، ولاړه ښځه ځار کوی.
ناوې هی هی لری، خو په زړه کښې ګوړی ماتوی.

ناوې تللې په خرې ورا بې پنډه په‌نغرې.
ناوې په پسول ښه‌ايسي، پاچا په خول.
نجل به هلته نجل شي، چې په څنو په اوربل شي.
نر پسه د حلالولو دپاره دی.
نرخ ته‌گوره، گولې وهه.
نر زوی په ورنی کنبې معلومېږی.
نر دې مرد، نر دې زېږه.
نرمه غاړه، توره‌هم نه‌غوڅوی.
نشته‌داسې لوږی، چې وتنبتی کمزوری.
نصيب کته کړي خر دی.
نصيب‌له ما هم‌گرندي دی.
نعمت پس له‌زواله معلومېږی.
نغړی له دښمنه ډک ښه دی، نه له‌دوسته خالی.
نغری دکهول، مشر دی.
نکريځې چې تر اختر تېرې‌شی، نو يې پر دېواله وتپه.
نن دې خاطر، سبا دې د ملا تير.
نن پر ما، سبا پر تا.
ننه‌واتې پر څه وی، که بې څه.
ننگ د کور په مېړو کېږی.
ننگ له‌مېړو لاړ، شرم له‌ارتينو.
ننگ له‌گوز ستا نه پاڅېدلی دی.

ننگرهار نیم نهار.

نور جوړ، کار ته نا جوړ.

نور یو منزل کوی، سپی دوه منزله کوی.

نور یې تر مړېدو خوری، ښځو یې تر لیدو خوری.

نوک او اوری نه سره بېلېږی.

نوم بې لوړ، کور یې ډګر.

نوم بد، ګرېوان ښیرې.

نوم د نامه نه پرې کېږی.

نوم یې خان، کور یې وران.

نولس شل کېدی نه، او بېړا اخستې نه.

نه اوری، نه ګوری، سر پټ بدلې بولی.

نه به کانې پوست شی، نه به غلیم دوست شی.

نه به تل دا سره اوښان وی، نه به تل دا ناصر خان وی.

نه پوهېږم چې ور تنګ شو یا خر غټ شو.

نه تا څه رانه کښېښودو، نه ما څه پکښې پرېښوده.

نه جغ کوم نه سپارد، خدای یې راکې پر تیاره.

نه چا لیدلی، نه باد وهلی.

نه خان دی نه مان دی، زما د اوړو زیان دی.

نه خر وهلی، نه لښته ماته.

نه خر مړ کېده، نه سپی ځنې ته.

نه خوړلی نه چښلی، پښتورګی درد نیولی.

نه د بې مالګې خوړو مزه شته، نه د پردی زویه ګیله شته.

نه د چا کور، نه د چا کلي.

نه د ښه حاله الواته، نه د بد حاله مرګ.

نه د تېنګې د وېشتو دی، نه د سستې د نیوو.

نه دلې شوم، نه هورې، تر منځ شوم خاورې ایرې.

نه د مړو د ژړا دی، نه د ژوندو د دلاسا.

نه دې پاتې خورم، نه دې سرې چلوم.

نه دې غیلې پیایم، نه دی ګاډې ځتم.

نه دې وی هغه غوړی، چې وېې نه خوری سړی.

نه دې کورت خورم نه غوړی، نه دې سوک خورم نه سوټې.

نه زما پلار ستا تربور دی، نه زما پلار ستا مزدور دی.

نه سیخ سوی، نه کباب.

نه شرم نه حیا، لعنت پر بې حیا.

نه.... کوي، نه دلار وزی.

نه کرم، نه ریبم، تورې ځتې اړوم.

نه کم نه کمتر، سلامت دغوایي سر.

نه کور ورک، نه دود ورک.

نه ګنلم چوټي، ببزاره یم د ګنې.

نه له پیره حیا لری، نه له میره.

نه ملا شوې نه امی شوې، د پلار مینه دی ورکه کړه، چرسی شوې.

نه مې وخوړه نه پرې موړ شوم، سلا بلا په تور شوم.

نه يې تر خولې شوه، نه يې تر نَسه.
نه يې خورې، نه يې خورندی ته ورکوې.
نيت سم نيسه، اول يې پر دښمن نبيسه.
نيت مې وتاړه په پړی، مانو، ګښت وهل په کلی.
نيستي د ميړو قدر کموی.
نېک بخت يې په بل وينې، کم بخت يې په ځان.
نېک عــمل به دې سلطان کــړی، بد عــمل به دې په ځــان پورې حيران کړی.
نېک عمل به دې پاچا کړی، بد عمل به دې رسوا کړی.
نيکی له دښمن سره کوه، چې تور ليمه يې ووځی.
نيمه ډوډی، د کوټې پای.

# (و)

واده اسانه دی، تک توک يې ګران دی.
واده په ساز ښه ښکاری، مړی په وير.
واده ته مه وايه، واده ګيه.
واده د نه ستنې، کرياب دی.
واده د الله داد، پکښې غورځې مولا داد.
واده دې د پردی، پکښې غورځی لېونی.
واړه تشې شلومبې شاربی، خبر نه شوه له مطلبه.
وانښکی پر نری ځای شلېږی.

واښه دسمي خوري، هوا دغره لري.

واک ستا دی اکا خبلې، اوس که غوا بیاییي که غبلی.

وباسه پېسې، وخوره پتاسې.

و به دي پوښتم، واکدار به دې نه کړم.

وتلی ښه دی، که ترپلی.

و جنگ ته یو دلوېشت دمخه کېدل، د سلو کلو لار ده.

وچ اوړه پر دېوال نه نښلي.

وخت چې د برې شي، هر گیدړ زمری شي.

وخت چې د ختمې شي، د یتیم پز وینی شي.

وخت سره زر دی.

وخوره گل بخور، چې دې وشی میراث خور.

ورانول اسان دی، خو جوړول ډېر گران دی.

ووغ یې چې برابره شی، چراغ یې په اوبو کښې بلیږی.

ورغستلی ، له منځه وتلی دی.

ورکړه په لاس، گرزه په پښو.

ورکه کې نیستی، سړی باسی له سیالی.

وروړ چې هر ځومره بد شی، د میرې له زویه ښه دی.

وروړ چې ننگیالی شی، دخور پر سر تیکری شی.

وروړ چې سپور شی، دخپل کور شی.

وروړ دې وی، پر لاهور دې وی.

وروړ دې وی، دمیرې دې وی.

ورونو جنګ وکړ، سادګانو باور.

وروستیه عقله، چې پرومبی وای.

ورورې خورې به کوو، حساب ترمنځه.

ورور یې مه‌وهه په‌توره، خور یې ناسته‌ده حضوره.

ورور یې کسه، خور یې نسه.

ورور یې ګوره، خور یې غواړه.

ورور یې ورور ته نه‌ګټي، شریک ته ګټي.

وریښم که زاړه شی، د خره کسته لا نه‌شی.

وریندارې خواره به دې غواړم، نه‌د ورور د مرګه.

وږې نه ول‌لری نه ولې، چې میږمن نه‌وي ناولې.

وړوکی‌دښمن، د اور بځرکی دی.

وړ دښمن، لوی وګڼه.

وړه چې په مېندد شی، هغه لا لویه فتنه شی.

وزه ننوزه، د جنګی لالا واده دی.

وزه ننوزه، وړسک خوره لیمه دې وزه.

وزه د شپون دپاره نه‌دده، شپون د وزې دپاره دی.

وزې وزې پې خو به راکې، خو له‌پچو ډکې.

وژاړه چې وخاندې.

وږې په‌خوب، دسترخان وینی.

وږي پیشو، د زمری سرد جنګیږی.

وږي ته پاخه تهپیر ښه دی، نه سپین زر.

وړی ته چا ویل: څلور څلور څو کېږي؟ ویل یی: اته ډوډۍ.

وړي ته د پانګ پوست سنګکی ډوډۍ ښکاری.

وړ ستر ګې خدای نه مړوی.

وړی د ډوډۍ تپهار اوری.

وړی د ملغلرو همیانۍ پیدا کړه، د نینو ګومان یې پرې وکړ.

وړی ستر ګې، نه مړېږی.

وړی نس، بلا ده.

وړی لره نیمه ګوله هم غنیمه دی.

وړی نه یم، قدر غواړم.

وسله هغه ده، چې په لاس درغله.

وسله که سل کاله بار ده، په سخته ورځ په کار ده.

وطن په دوو ستر ګو خپل دی، په دوو پردی.

و عاقل ته اشاره دی، کم عقل ته کوتک.

وګټه، پیل وخوره.

وګوره سړی، ترې لاندې واچوه کالی.

ولاړې اوبه، ژر ژړېږی.

ومې بله، ومې تله.

و مه خورې هغه غوړی، چې وباسي مرغېړی.

ونه چې زړه شی، د هرې بلا پرې شپه شی.

وهم دې چېرې، ډب دې چېرې خېژی.

ویښلی وروړ، تربور دی.

ویل دې ښه، کول دې بد.
ویل شته دی، عمل نشته.
ویل، لکۍ ښه دی، که پتۍ؟ ویل پتۍ.
ویلني مې د ویالې ترغاړې بد ایسی، په کور کښې را ته شین شو.
ویی واهه په سر، ویې چاودې تلې.

## ( ه )

هډ په پیوند، جلا کیږی.
هډو عمر بې مه حسابوه، حال ته یې گوره.
هرچا ته خپل وطن کشمیر دی.
هرچا ته خپل مزی مرغلین ښکاری.
هرچا ته خپل زوی شهزاده دی.
هرچېرې چې ښه، هلته دې شپه.
هرچېرې اور بل، کټوې باندې.
هرچېرې چې خورې، هلته به مرې.
هر ځوک له ځانه خوښ، په نیره ښبا ښنگښ.
هر ځوک پوهیږي، چې غوا توره، شیدې یې سپینې.
هر ځوک چې وزگار شی، یا غل شی یا بیمار شی.
هر ځو چې هوښیار یې، نادان لا پوښته.
هر څه چې درته وایم، ته خپله عرکه شاربې.
هر څه مې د بل خوښ دی، عقل مې خپل خوښ دی.

هر سړی خپل غم ژاړی، نه چې د بل غم.

هر سړی تر خپلې مدعا پورې یار دی.

هر سور ږیرې، ملا شاه گُل نه وی.

هر شی چې غبرگ شی، لنډیږي، خبره چې غبرگه شي اوږدیږی.

هر نوی قدر لری، بې له مرگه.

هر مرغه، خپله یې ځاله خبر نه دی یو د بل له حاله.

هر مرغه چې دانه اخلی، ځنگونه یې زبږدی.

هر یو پر خپله تېکی لور اړوی.

هستی کوی مستی، نبستی کوی سستی.

هسې مه کوه انسانه، چې زوی گران کې، لور ارزانه.

هغه بنده به څه کړی، چې خدای یې زېرمه نه کړی.

هغه آش، هغه کاسه.

هغه چرگه مړه شود، چې برگې هگی به یې اچولې.

هغه چې الوځی، تېولې چوغکی دی.

هغه خور دی ارمان نه کړی، په دوروني یې واده کړی.

هغه درک، هغه خرک.

هغه سړی نه دی، چې له ځانه خبر نه دی.

هغه سپی دې خوری، چې پېژنې دې.

هغه شپې لاړې، چې ما او تا به کړې کرواړی.

هغه چې نن غران کړی، نه یې خپل، نه یې خپلوان کړی.

هغه چې کار په عقل کیږی، زور ورته عاجز دی.

هغه ورځې لاړې، چې دی لَو کاوه په ولاړې.

هلته به دې زده شي، چې د خوار په‌حال دې شپه شي.

هلته به‌دې زده شي، چې په ادرگ بدرگ دی شپه شي.

هلته ځه، چې قدر دې کیږي.

هله به ځاربږم، چې له کاره وزگاربږم.

هله به خبر شي، چې تا رو جبی له‌ورشي.

هم اوړه پیبني، هم اور پو کې.

هم بوره، هم بدنامه.

هم ودیږي، هم رقصیږي.

هم درخخه مرم، هم درپسې مرم.

هم د سین دا غاړه پیایي، هم هغه‌غاړه.

هم یې پر مېخ وهی، هم یې پر نال.

هم یې سکنی، هم یې رغوی.

هم یې کرې، هم یې ریبې.

هندو پېسې گټې، پښتون قیصې گټی.

هندو څه وهلی، څه‌سر تور کړی.

... هندو بې گوړې نه‌وی.

هندو زوړ شو، مسلمان نه‌شو.

هندو گوړې په‌خوب ویني.

هندو ستړې، ... ی ناراضه.

هندو مې پک نه دې لیدلې.

هوده د شرمنبکې نه لري، لاس بنامد ته‌اچوي.

هوره مې خوړلې ده، په ځان مې ازمويلې ده.

هوسې پخوا هم د غرو وه، مګر چې ګېنګړي يې ترغاړه شول د غرو څوکو ته وخته.

هوسې هسې هم ترنده وه، چې ګينګړي ورته‌واچاوه، لا ترنده شوه.

هوسې هوا دغرووهې، وابنه د سيمې خوري.

هوښياران، زهر د ترياکو په‌ګومان خوري.

هوښيار ته اشاره ده، ناپوه ته ډنډه.

هوښيار نه‌غوزاربږي، چې غوزار شي، غبرګ غاښونه يې وځي.

هوښيار مرغه په دوو لومو بنديږي.

هوښيار مرغې په دوو لومو کښې نښلي.

همسايه غل مه بوله، خپل کور دې ساته.

هم‌يوري ژاړي، هم وراري.

هيڅوک نه‌وايي چې زما د غړکې خوند بد دی.

((((( ***** )))))

# (ی)

* یا انا وهي، یا عمر کې څېرې.

یا بر چمر کنډی دی، یا کافر د لېکنډی دی.

یا به تخت، یا به تخته شي.

یا به تخت وي، یا تابوت.

یا به کولاله ونیسی، یا به مالداره ونیسی.

یا به يې کولاله کړی، یا به يې مالداره کړي.

یا به هي په ساروان وی، یا په کاروان.

یاد به‌دې زه کړم، مور به دې خدای کا.

یا د چا ودې پښې ژړاوې یا د کونډې ښځې.

یا د چلم سر، یا د پلاو بېخ.

یا د خدای قدرت دی، یا د میړو غیرت دی.

یا د مور تې دی، یا د چلم نی.

یاد مې ته که، مور به مې خدای.

یارانه، ډوبه جاله.

یار تر کوڅې تېر که، رنګ يې هېر که.

یار ترما پورې رنګ ژېړی ښه دي، نه‌زه تر یاره.

یار چې ځایې شي، رنګ دې ورک شي.

يار مېلې لره دی، دوست تنگې لره دی.

يار د يار دپاره خوری د غوايي غوښې.

ياری چې په شوتالو شوه، نو و نه شوه.

يا لويو کورو ته ورځه، يا لويو غرو ته.

يا مړ، يا موړ، يا جگ پر غوايي سپور.

يا مې ابا بوله، يا کټوه ماتوم.

يا نه کوي، يا د خره کوي.

يا نه ځم، يا منډې وهم.

يا نېک پلو، يا نېک جلو.

يا ووړ پوښتنه، يا زوړ.

يا وبنه ژاړی، يا مينه.

يا يار شه، يا بېزار شه.

يتيم ته بې نس مستي هم پسرلی دی.

يتيم په ژړا عادت دی.

يخ دې تنه کار دی، زوړ مېړه پکار دی، ځوان مېړه ناتار دی.

يَرحَمَکَ اللّٰه، هم ځای لری.

يېره سمې ته نه راتله او ملا غره ته نه ته.

يو انار او سل بيمار.

يو بهلول يو يې کند، يو يې کچکول.

يوه بلا بلی ته وايي چې:بو.

يو به مړ نه شي، بل به موړ نه شي.

يو پټي شپشتې يې وخوړې، وايي دا لا مړه ده.
يو په اوښکو ژاړي، بل په وینو ورسره ژاړي.
يو په ست ښه ايسي، بل په پت.
يو په سله، سل په هيڅ.
يو تنها به دې سفروی، يا به غم يا به اختروی.
يو تک دې دارو نشته، پرځان دې غومباره نوم ايښې دی.
يو څه زه لنډ يم، يو څه مې د بنی ګوډی اوږد دی.
يو ځان شرموي، بل قام.
يو د لوړې مړ کېده، بل يې سر ته پراټې کټلې.
يو ډېګی، ټول کندی.
يو زوی، نه زوی.
يو سر، نه سر.
يو ښار او دوه نرخه.
يو کار وکړه، چې سل وارزی.
يو لاس دې خدای هغه بل ته نه اړوی.
يو لاس په چاړه، بل خواړه.
يو لمونځ په هفته کنبې، هغه هم په ماته کنبې.
يو موټي دې اوړه نشته، سل دې تنرونه دی.
يو نَس، دوه منته.
يو نوکي غيرت، ترسلو مېړو ښه وی.
يو وار يې شل کړه، بيا يې په جوال کنبې واچوه.

یو وار چې زوړ شي، بیا خدای خبر چې جوړ شي.

یو وایې مریې دې یم، بل دې فکر وکړی چې په څومې اخستی دې.

یو وایې مریې دې یم، بل یې نو په بازار نه خرڅوی.

یو وار مرګی وای، خو بیا لیده وای.

یوه پر تناره خوری، یوه پر زنګانه خوری یوه چې کښېني بیا هله خوری، دا خواره نو څه خوری؟

یوه چاړه چې دوې کې، دا چاره به په پرې کی.

یوه کور خرڅاوه، بل په پور غوښته.

یوه دړه اور نه کا، دوه بنی کور.

یوه ربښتیا رښتیا ویل، په سمه کښې یې ځای نه ؤ.

یوه ژرنده ځتله، بل یې لکی ځتله.

یوه سترګه پر دین، یوه پر دُنیا.

یوه شپه د مړ د مېړه سره هم تېرېږی.

یوه غونډی که هواره شي، ډېر خندکونه به ډک شي.

یوه کوه، یوه اوره.

یوه لوښت ناوکی، دوې لوښتې بې کوڅی.

یوه مېړو ښه تر سلو کونډو ښه ده.

یو، منه واچوه، تر بلې بیا خدای.

یوه کډه د بلې زړه کاږی.

یو بې خوری، بل ورته مری.

یو یې واهه، بل پرې په نازېده.

يو يې گټې، سل يې ښځې.

يو يې ژنده ماتوی، بل يې پارچاو اړوی.

يويې بر وهی، بل يې ريښې.

يو يې سر وهی، بل يې پلې.

يو يې بزی پيايې، بل يې گاړې ښځې.

يوې بلا بلې بلا ته ويل: اوخ.

يوې د غمه ژړل، بلې له خوشالی ورپورې خندل.

يوې پښې و بلې ته، ويل نه څم.

يوې ناوې اينگې کاوه، ښه يې زگيروی کاوه.

يه بايد يه وي، هو بايد هو!

ښې مې خوړې، سرې وينې ترې تلې.

***********
*********
*******
*****
***
*

PROPERTY OF ACKU 11326

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**